
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

مصری خان خاطر اپریدے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# ترون

د خيبر درې
د شاعرانه غيږې
په
نوم

د خاطر رنګين غزل ته حيرانېږم
په دې خم خيبر کښې څه دې يې له خاورو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# فهرست


| شمېر | | مخ |
|---|---|---|
| | (ا) | |
| ۱ | چي عاشق د معشوقې په لور کاته کا | ۱۴ |
| ۲ | چي اشنا يې ستمګر شي نو به څه کا | ۱۵ |
| ۳ | نږدې يې کړې هر وخت ديدونه اشنا | ۱۶ |
| | (د) | |
| ۴ | کافي برقي دي ديار د محمد ۳ | ۱۷ |
| | (ل) | |
| ۵ | خير نو که درته ما وکړل تا را وکړل | ۱۸ |
| | (م) | |
| ۶ | د استا د حسن تماشې وا خستم | ۱۹ |
| ۷ | دوايه شم تا نه قربان څه وکړم | ۲۰ |
| ۸ | باغ د مينې دې د خيال پکښې غنچې کړم | ۲۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ


۹ : زهٔ ځکه د مرم په شان دیدار ته اربهٔ کیږم ــــــــــ ۲۲
۱۰ : شرمسره چې نه یم په څوانه پسې نعیږیږم ــــــــــ ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هر هوښیار نهٔ شم ــــــــــ ۲۴
۱۲ : واخلمه تا او ګڼهٔ دنیا واخلم ــــــــــ ۲۵
۱۳ : خوشحالی ستا شوه زهٔ ئې نهٔ اخلم ــــــــــ ۲۶
۱۴ : ځکه کلی چې په ازغو کښې ویښم ــــــــــ ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېروم ــــــــــ ۲۸
۱۶ : اشنا ګڼهٔ تا ته په کتو یوه شوم ــــــــــ ۲۹
۱۷ : قسمته واسې دې ویده کړم چې بیدار نهٔ شوم ــــــــــ ۳۰
۱۸ : نور په نیږهٔ ې نهٔ ځانیږی چې څهٔ وایم ــــــــــ ۳۱
۱۹ : ته به کرغږ هسې بتځلې نهٔ به مریم ــــــــــ ۳۲
۲۰ : ځنکلی مخ ته دې د مرم په شان اربهٔ یم ــــــــــ ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګوره سره سکره نهٔ یم ــــــــــ ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! زهٔ دې په غنچو کښې نهٔ یم ــــــــــ ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سپېځلے یم ــــــــــ ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې یم ــــــــــ ۳۷


( و )


۲۵ : زوندی کله ته ماړهٔ دی چې لهٔ ځان درو ــــــــــ ۳۸
۲۶ : څوک به زهٔ ته بیرته به سره سترګو ــــــــــ ۳۹
۲۷ : نن به څهٔ پرېسې زما په ترندی سترګو ــــــــــ ۴۰




مخ


۲۸ : بیا دې سړې نهٔ کړم په هغو سترګو ــــــــــ ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې توله شپه سحر لیدلو ــــــــــ ۴۲
۳۰ : شوق چې ستا لهٔ دیره پیغو بغو سره لاړ لو ــــــــــ ۴۳
۳۱ : یاد شو مه د عشق ډګر ته ګوره په سر ولی ــــــــــ ۴۴
۳۲ : څو به سره یې دا په نیږهٔ ذره ذره یی ــــــــــ ۴۵
۳۲ب : ځکه چې تن به سرو نیږه د تیر کړو ــــــــــ ۴۶
۳۲ج : بند شوله د پېږو چې انکار ده وکړو ــــــــــ ۴۷
۳۳ : خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته ــــــــــ ۴۸
۳۴ : زهٔ یمه حیران د دنیا سترګو ته ــــــــــ ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې دا مل نخښند ده ــــــــــ ۵۰
۳۶ : خواږهٔ تراخهٔ شر د خوږو هسې نامه پاتې ده ــــــــــ ۵۱
۳۷ : بیګا ستا په انتظار چې هسې ستړې توله شپه کړه ــــــــــ ۵۲
۳۸ : لرې د نقاب لرې کړه دل زده کړه ــــــــــ ۵۳
۳۹ : ما په شړګیو تا په خوږو تېره کړه ــــــــــ ۵۴
۴۰ : رقیبه په خبر راغلې راشنا خبرې کړه ــــــــــ ۵۵
۴۱ : یاد شرابو نه شې وباسه ــــــــــ ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یوسه ــــــــــ ۵۷
۴۳ : ځکه کلی د مرسپدو ځکه شه ــــــــــ ۵۸
۴۴ : ستا لهٔ سپینه مخه ځار زما زړګے شه ــــــــــ ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه به یې په لاس کښې راغله ــــــــــ ۶۰
۴۶ : ترخو ته چې نیږهٔ کیږی کله کله ــــــــــ ۶۱


Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ

٤٧ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې په شرله ———— ٦٢

٤٨ : بیا به سره وکړو اوس ځوانۍ ده دغه درومه ———— ٦٣

٤٩ : شکر دے چې زړۀ صنم د شپې شرمنده ———— ٦٤

٥٠ : کله چې په فکر کښې دستا یمه ———— ٦٥

٥١ : د لارې خاورې شوم د ښېښې ښکلي وتلي یمه ———— ٦٦

٥٢ : تو به څنګه تېر پرې کا په هوښیار باندې وختنه ———— ٦٧

٥٣ : ما په مثال لکه پتنګ وکړه ———— ٦٨

٥٤ : دستا د خولې چې فیصله ما ته شي ———— ٦٩

٥٥ : نور نصیحت به خریدو کښې دا قسمت مه راکړه ———— ٧٠

٥٦ : ته څه وایه زۀ به څۀ کړم، زړګیه لیونیه ! ———— ٧١

ۀ

٥٧ : ځیګر چې شو کباب په لمبو د لګېدۀ ———— ٧٢

٥٨ : لوے دریاب د مینې نۀ شي په دا پوۀ زړۀ ———— ٧٣

ی

٥٩ : دا مې بله شپه به په نصیب سره راشي ———— ٧٤

٦٠ : عکس دستا زما د سترګو لۀ څڅوبه وځي ———— ٧٥



٦١ : دستا سترګې چې کړې غبرګې د زړۀ نه وځي ———— ٧٦

٦٢ : زړګیه ! تا ولې چې درد دومره څۀ دی ———— ٧٧

٦٣ : چې پښېمان نۀ شې په یا کښې څۀ دی ———— ٧٨

٦٤ : کله دستا د خندا په ورشپې دی ———— ٧٩

٦٥ : دستا په غم کښې خوشحاله پېښې دی ———— ٨٠

٦٦ : زما چې دا مدام د غمه ډک دلبر ته سترګې دی ———— ٨١

٦٧ : څو څو ما ته خسې بله دنیا ښکاري ———— ٨٢

٦٨ : زړۀ چې کۀ هر څو را ته هر څۀ غلېږي ———— ٨٣

٦٩ : زما زړۀ او دستا سترګې سره چېړېږي ———— ٨٤

٧٠ : ما ته څو ځل په ډېر زړۀ دېرې څو دومره وکا تېرېږي ———— ٨٥

٧١ : څۀ چې پرې په ما دیار سره جوړیږي ———— ٨٦

٧٢ : د وخت داګذارده شي چې ما غرېده نۀ جوړېږي ———— ٨٧

٧٣ : نور به ایله څۀ دلبرش نه پاتې کېږي ———— ٨٨

٧٤ : سترګې دې چې کړه برسنده چې وختر نه وار خطا شي ———— ٩٠

٧٥ : په ارمان د ناتوانه شي چې هوښیار شي ———— ٩١

٧٦ : د دې دنیا نه چې ګلان ورک شي ———— ٩٢

٧٧ : چې چې دومره دے دلبر په پېمان شي ———— ٩٣

٧٨ : ستا چې خوږې زلفې کړې ډې لا تار شي ———— ٩٤

٧٩ : لیوانه چې به چې ما ورې چې کاڼۀ به شي ———— ٩٥

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
۸۰ : خزان لاړ شي بهار راشي ګلان خوشحاله شي ________ ۹۶
۸۱ : راشه په غوږ کښې د ځګر خبرې نه شي ________ ۹۷
۸۲ : داستا په سترګو کښې به څه پاتې شي ________ ۹۸

ـــے

۸۳ : زړه په ما نه دے چې نا رسے مخ دے ________ ۹۹
۸۴ : څوک چې ستا د ګرانې مينې طلبګار دے ________ ۱۰۰
۸۵ : خوږ خوږ د مينې په ترخو کښې انتظار دے ________ ۱۰۱
۸۶ : خدايه څومره بې وفا زما دلبر دے ________ ۱۰۲
۸۷ : ما وې ځان رانه اشنا دستا په ښهر دے ________ ۱۰۳
۸۸ : شاشه چې حسن دې اشنا د سرو لمبو نه ډک دے ________ ۱۰۴
۸۹ : تک تور سرے داستا سرے وربل دے ________ ۱۰۵
۹۰ : څومره وړې وې په زړګي باندې چې غم دے ________ ۱۰۶
۹۱ : ستا په انتظار کښې مانه کال څه دے ________ ۱۰۷
۹۲ : چې نړۍ چې ستا په تور دے په بل تور دې پيوند نه دے ________ ۱۰۸
۹۳ : چې لمن نظر چې د بصر باقي دے ________ ۱۰۹
۹۴ : سترګې دې چلې چې وخندا نده کړے ________ ۱۱۰

ي

۹۵ : د ځان سپکاوے لرکښې مسکې دې ماليدي ________ ۱۱۱
۹۶ : اشنا چې ئن ليدۀ تېرې وعدې راياد يدي ________ ۱۱۲
۹۷ : زما د اميدونو ونځې شي وغن يدي ________ ۱۱۳
۹۸ : چې بنګلي دې وخنديدي شرميږي ________ ۱۱۴



مخ
۹۹ : پوره شوه په دې چې په ګنځل کښې ښکه بنګاريږي ________ ۱۱۵
۱۰۰ : اے ګله ستا چې ډکې له خندله سترګې اوري ________ ۱۱۶
۱۰۱ : ګډ دې دا ټولې په لاس راغلي اشنا بيا به څه کړي ________ ۱۱۷
۱۰۲ : د پرهر خوشحالي ښه نه ده بيا رانه هيريږي ________ ۱۱۸
۱۰۳ : ګله مجنون غوندې ګرځم په بيابان درځمې ________ ۱۱۹
۱۰۴ : راشه اے ماو تابان په توره شپه کښې ________ ۱۲۰
۱۰۵ : چې د سترګو دې ښکار زنې زما سترګې ________ ۱۲۱
۱۰۶ : خوړ د عمر چې پرې ګرځې شرې زما سترګې ________ ۱۲۲
۱۰۷ : د ستا چې نه وينم دا توري سترګې ________ ۱۲۳
۱۰۸ : څه د شو چې سترګې چې په تابانه څرخ شرلې ________ ۱۲۴
۱۰۹ : چې اشنا تړې کړي ايسار پرېږم ولې ________ ۱۲۵
۱۱۰ : اوښکي نه ګيږي خو راماتې شوي ________ ۱۲۶
۱۱۱ : ته به په زړه کښې مانه څه راکړې ________ ۱۲۷
۱۱۲ : ته ما ستا ښکلي يې په سله نه لږ ________ ۱۲۸
۱۱۳ : هر څو ګډ چې د زړه قرار ماراله راغې ________ ۱۲۹
۱۱۴ : دا سې رانه ګرځې ته ته چې رانه ګرځې ________ ۱۳۰

## سندرې

له ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې په لور کاتهٔ کا
خو د لېمهٔ شي کم طاقته په ږواتهٔ کا

چې پلو لا مخه لرې کړي د نیا شي
لکه ستر که د سبا چې را خاتهٔ کا

لرې عکس د زړهٔ واخله کهٔ دې شک وي
چې دا تور بانړهٔ دې څر نګه ویشتهٔ کا

په مئین زړهٔ خندن شي چې یار راشي
په هیبت زړهٔ په کوکل کښې الوتهٔ کا

د خاطر په زړهٔ کې داغ د بېلتون کوره
چې د یار په لور کا زړهٔ واړهٔ کاتهٔ کا

چې اشنا یې ستمګر شي نو به څهٔ کا
چې زخمي شوک په ځیګر شي نو به څهٔ کا

چې تېول عمر یې تېر کېږي په پالنګ وي
څهٔ چې زمکه یې بستر شي نو به څهٔ کا

چې په عمر کښې یې غم لیدلې نهٔ وي
چې د غم سره یې سر شي نو به څهٔ کا

انتظار چې د وصال په کومه شپه کړو
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څهٔ کا

کهٔ دیدن د یار مرندے په دربدر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څهٔ کا

زهٔ خاطر خو همېشه د غمي وایم
چې اشنا یې مسرور شي نو به څهٔ کا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړه مې کوي هر وخت دردونه اشنا
لږ خو مې واوره فریادونه اشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مینه کښې نه
ګوره د اوښکو مې سیندونه اشنا

اوس دې له غمه خلاصیدے نشم
ما وې په عشق کښې وی خوندونه اشنا

نن په جبین کښې دې خالونه ځړ دی
دی په چشمانو مې ګردونه اشنا

که ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دی ارمانونه اشنا



کاڼي بوټي دی دیار د محمدؐ
ما منلی په دیدار د محمدؐ

ګل رنګونه به یې لا ړې شي په مخکښې
که چا ونیوله لار د محمدؐ

د دنیا واړه ګلونه به یې هېر شي
که چا ولیده ګلزار د محمدؐ

چې د دې دنیا ژړا او خندا نه وے
نه وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو یې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وی یې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نن کۀ د رته ما وکړل تا را وکتل
خوګوډم به دې بیا کۀ دې سبا را وکتل

هم د غسې ګلو نه وو چې مینه جوړه شۀ
څۀ وشو پس له دې کۀ اشنا را وکتل

دنیا را ته ګوري د کتو نه وو تم
چې تا نه مې کتلی دی هر چا را وکتل

پۀ مخه باندې را غلې مخ دې خلاء پټوۀ
کړه غم دې را ته جوړ چې دې پۀ شا را وکتل

دستي مې د ښتۀ وخندل هم دا مې وۀ ارمان
تا چې اے رقیبه پۀ خندا را وکتل

یو دم مې زړۀ نرے شو لو هم زو لو خاندلمه
خاطر چې غریو نیولې پۀ ژړا را وکتل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے پۀ سر لمبې واخستم

لاس خو بې را نۀ کړه چې مخ پټوې
ګوري یاران مې د غم شپې واخستم
دا د رته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وايي خاله تۀ چې ستا اسرې واخستم
سبا مې بیا پۀ زولنو کښې ګوره
نن بې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ پۀ سبا پوه نۀ شومه
کۀ دې د زلفو توري شپې واخستم
ګور د نو ندوون را ته یو پور بنکاره شو
چې تصور د هغې د یرې واخستم
بس یادوم دې نور ډې مۀ تنګوه
چرته مې هر نشې غمې واخستم

خاطره تۀ او دا دنیا دې پوه شه
نۀ بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

ووایه شم تا نه قربان څه وکړم
نور ددې د پاسه په ځان څه وکړم

ته خو به کمځې د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلېدلي ګرېوان څه وکړم
ته خو چا ته نه ورځې، خو زه راغلم
ځ یم ستا په دربنې مهمان، څه وکړم
زه به نور څه نه کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څه وکړم
ستا په طمع ځان له پاتې شوے یم
ټول خو راند لاړل یاران، څه وکړم
پوه دې چې په ځان کړم اوس چې نه پوهېږې
بیا به داسې نه کړم سلطان، څه وکړم
چا به د غم ټک ټوندون اخستے وه
بس خو چې پیدا شوم انسان، څه وکړم

اوس خو زه خاطر په څه پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې حېران، څه وکړم

○



○

باغ د مینې دې د خیال په کښې غوټې کړم
ستا د مغ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نه وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
شعله اور د خپله لاسه در پسې کړم

ستا د مغ کتاب د زړه په سترګو ګورم
په ځان تېرې شې او بدې راخورې کړم

زه خاطر خو یاره ستا د مغ کتاب ته
بې له تا نه په خبر کښې ودرځې شپې کړم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زهٔ لکه د موم پهٔ شان دیدار ته اوبهٔ کېږم
پرېږده چې او بهٔ شم ستا رخسار ته اوبهٔ کېږم

چرته شي خوبونه شپې پرې ستوري محفل جوړ کړي
همدا يې مشغولا شي ستا سپېنګار ته اوبهٔ کېږم

زهٔ پرې بنهٔ پوهېږم ستا ليدل زما اجل دے
بيا يې هم وار نهٔ شي ستا يو وار ته اوبهٔ کېږم

اوس خاطره ولې خداي پهٔ نهرهٔ کړم دومره سخته
بيا چې پس لهٔ مرګه ستا مزار ته اوبهٔ کېږم



ستا پهٔ اُلفت کښې به هوښيار نهٔ شم
څو چې د عقل نه وزګار نهٔ شم

سود يې د عشق پهٔ لېونتوب نهٔ شي
څو چې رسوا دې پهٔ بار بار نهٔ شم

يار يې وفا دې مانه هله وائي
چې تر دې لاسه او ماله زار نهٔ شم

څو چې پهٔ تورو خاورو موړ نهٔ شم
موړ به دې هرمره پهٔ ديدار نهٔ شم

کهٔ د منصور غوندې پهٔ دار شم اشنا
دا ستا لهٔ عشق به توبه ګار نهٔ شم

خاطره! داسې ګذار عشق راکړلو[1]
چې بل ګذار ته به بېدار نهٔ شم

[1] [illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا اوکړه دنیا واخلم
په خندا خرڅه ژړا واخلم

لیږي دې پوړ ته کړه د مخ نه زلفې
لیږه سودا چې په دنیا واخلم

ته چې په سترګو کښې مسکې شوې ګلې
نه دې درې مینې بلا واخلم

تا ته چې ګورم په دوه زړونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل په شا واخلم

مرګ او بېلتون راته جوړه راغلي
خاطره دا واخلم که دا واخلم



څومره چې زړېږم په ځوانۍ پسې ژړېږم
خدای زده نه پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نه اوله تا تنګ راسې کله چرته شوی
دومره خو پوهېږم چې قدم اخلم ودرېږم
ته او ستا بنایست چې په ما څنګه ښکاره شي
مه کوه ایله نن د هر څه سره جوړېږم
نه یمه خوشحاله ستا په غم کښې خندا مه شي
خدای یې بخلا مه کړه چې له تا . مرورېږم
شان یې د کړه ونه وي خو چې زړه یې شي راپورته
تا ته چې نه سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
غوښته یې هم دا چې راته ووایې چې درومه
خدای خبر چې بیا دې په پلوڅ در ښکاره کېږم
ته که په یو ځل له ما خلاصېږې نو بیا واخله
ته به راته نه شې کتې ځکه له خندا کېږم

څنګه ما خاطر درته دا ووې چې یې هېر کړه
پرېږده چې یې واره په هر ځای کښې در یادېږم

---

میاشتنۍ «قند» مردان ـ خصوصي ګڼه ۱۰ رکالین نمبر (ص ۹۵)

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوشحالي ستا شوه زۀ يې نۀ اخلم
د ستا غمونه واړه زۀ اخلم

تا چې زړۀ دې وړۀ ګواه هم نۀ لرم
اوس به لۀ تا نه خښکه زړۀ اخلم

اول سپېرغي وم ستا د مينې د اور
اوس پۀ ځان پوه شوم چې لمبه اخلم

پۀ وړاندې دې ځم پۀ دروستو ګورم آشنا
زۀ قدمونه چې واړۀ اخلم

هر سړي ګرد وټه پۀ خاطر دی د غم
پۀ اسويلو کښې چې سيالۀ اخلم

لۀ منزل په کښې د الفاظو غسونه د ده چې صحيح نۀ دے .



لکه ګلې چې پۀ اغزو کښې وينم
داسې يې زړۀ ستا پۀ بڼو کښې وينم

رخسار دې وينم تور دې زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې پۀ تيارو کښې وينم

ګلفامه څو کله لرې اوسې لۀ ما
زۀ دې د نم پۀ پلوشو کښې وينم

وستا ليدل تېر شوے خوب وۀ آشنا
بيا به دا خوب پۀ کومو شپو کښې وينم

اے د سبا ستړې باخبره پۀ ورو
تلۀ د آشنا دې پۀ خټو کښې وينم

زما خاطر خاطر دې اوس کښې ويسو
اوس يې لوګي پۀ اسويلو کښې وينم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

پهٔ دې دُنيا کښې مسې شپې تېروم
لکه مېلمه يو دوه غرېې تېروم

پهٔ ما زهير مهٔ شي خوسغ بنکاره کړه
پهٔ زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوه چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے يم چې تنګسې تېروم

دا زهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
پهٔ خپل خاطر د غم چپې تېروم

○



○

اشنا کهٔ تا ته پهٔ کتو پوره شوم
نو بس پهٔ تولو تماشو پوره شوم

بس خو معلومه شوه چې نهٔ را دروې
ستا د دروغو پهٔ وعدو پوره شوم

يا د ساقي د مېن خوند نشته دے
يا زهٔ ايله اوس پهٔ نشو پوره شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وي داسې
زهٔ دې د مخ پهٔ سرو لمبو پوره شوم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



قسمته داسې دې ودهٔ کړم چې بېدار نهٔ شوم
بغیر لهٔ تا ستا دغمونو نه وزګار نهٔ شوم

پهٔ دې دنیا کښې به غیر ستا لهٔ ژوندهٔ څهٔ نوندي
لېونم غورځېږم خو بیځل پهٔ کښې خمار نهٔ شوم

ستا پهٔ الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جرګو ځنې وېزار نهٔ شوم

تهٔ چې راکوې زهٔ به هغه وخت پهٔ طمع ومه
یو ځل هم مونږ د ستا د ځلې پهٔ ښهٔ ګفتار نهٔ شوم

هغه وعده چې تا پهٔ سترګو کښې وه ماته کړې
دا زهٔ خاطر دې د وعدې پهٔ انتظار نهٔ شوم

نور پهٔ زړهٔ ې نهٔ ځائیږی چې څهٔ وایم
دانه بیا مرور یږی چې څهٔ وایم

کهٔ څهٔ نهٔ وایمه هم راپورې کړی
پهٔ دې هم راته قهر یږی چې څهٔ وایم

د هرچا پهٔ لورې څمه داسې وخت دے
بیا ې وخت کله تېریږی چې څهٔ وایم

کهٔ خبره نهٔ وی ما نه خپه دے خپه دے
بیا خپل حسن نه خبریږی چې څهٔ وایم

وېره بنه پهٔ تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې ې شرمیږی چې څهٔ وایم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته به کرځې مسې بنګلے زۀ به مړ یم
چې يې اوس وګے لږ لیدلے زۀ به مړیم
جنازه يې چې له کوره کړه ته درومې
ته به نۀ وې راو تلے زۀ به مړ یم
خداې د پاره په مزار يې چې را درومې
لږ شه ماته پښه نيولے زۀ به مړیم
زۀ به مړ شمه قرارې مرګے ورک شه
سره خاندی به تهول کلے زۀ به مړیم
وچې ترخې به په ما وی باذرغونې
وی مزار به مې مُبتلے زۀ به مړ یم
اے اشنا چې دې وطن له ته را درومې
خړ خپېږ خو دې لیدلے زۀ به مړیم
خړې خاورې به په ما باندې انبار وی
هر سړے به درومی غلے زۀ به مړیم

د کاکل په خته بند د مغ کتاب کړه
ما خاطر په خدای سپارلے زۀ به مړیم



بنګلی مخ ته دې د موم په شان اوبۀ یم
لکه کاڼے مسې کلک ورته په زړۀ یم

چې په کومه لاره لاړ شی زۀ يې مل یم
لکه ګرد يې مسې خوړ په هر یو پلۀ یم

زۀ په کومو سترګو ځان ته بیمار وایم
چې د ستا نوم اخستے شمه نو ښۀ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
په دې خوب پسې لا هغسې ویده یم

لږ د ځان سره په زړۀ کښې فکر وکړه
زۀ خاطر دې چرې یوځلې په زړۀ یم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



گوره چې رنګ مې سوے سکور نهٔ یم
طاقت مې نشته ستا د نور نهٔ یم

راځه د سترګو نه مې مهٔ ورېږه
سرې په ژړا دی څهٔ مخور نهٔ یم

دې اسوېلو ته مې تهٔ نهٔ ګورې څهٔ
سوے پهٔ اور یم سوے لور نهٔ یم

ستم کوه تهٔ منع کړے یې چا
زهٔ لا خاطر مړے د ګور نهٔ یم



سپرلیه زهٔ دې پهٔ غوټو کښې نهٔ یم
عادت پهٔ داسې تماشو کښې نهٔ یم

کهٔ راکوې نو سم شراب را کړه
زهٔ دې ساقي هسې اوبو کښې نهٔ یم

اے خدایه بس ما خپله ورځ ولیده
د داسې ژوند پهٔ تېرېدو کښې نهٔ یم

د ستا بانړهٔ د ستا رخسار پهٔ خاطر
بې د ګلونو پهٔ اوازغو کښې نهٔ یم ـه

تهٔ ما خاطر ته هسې ست خو وکړه
چې خفه نهٔ شې پهٔ در تلو کښې نهٔ یم

ـه متن لرغونو دیوان کښې دا بیت د غزل مرد دغه بیت دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د منزل په مزلونو کښې يم
د د سېدو په اميدونو کښې يم

نه مې دنيا نه مې عقبا ګټېږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې يم

د ستا د رخسار به مې هېر نشي اشنا
که د بهار په سرو ګلونو کښې يم

زما په زړه کښې خو هم ته يې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې يه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



○

ياره ستا مينې په اور سوځېدلې يم
دوغ به نشمه په زړه داغلې يم

خورم قسم چې تر هغې پورې ژوندے يم
ډېر دې زړه په تش ديدن ساتلې يم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناست يم
ياره تا کله خوشحال ليدلې يم

خوار خاطر ولې چې دا کومه ګناه ده
چې له در دې بېنوا شړلې يم

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ژوندی کله نهٔ ماړهٔ دی بې لهٔ خاورو[1]
نهٔ ماړهٔ دی نهٔ ساړهٔ دی بې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان ګڼلے په ژوندون دے
هغه چرته کښې وُدهٔ دی بې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شي نو کلک شي
دیوال کړے چا اوبهٔ دی بې لهٔ خاورو[2]

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
په دې خس خیبر کښې څهٔ دی بې لهٔ خاورو

۱ متن ارینه او دیوان کښې د (لهٔ) په ځای ... (د) ... شرح کښې صحیح نهٔ دے

۲ متن ارینه او دیوان کښې غلطه مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دیوال کړے چې اوړی دے چا لهٔ خاورو .



خورد به نهٔ ژړېږمه په سرو سترګو
ژړو تمه ستا په لېونو سترګو

مهٔ تووره توره بلا سترګې دې
پام چې درته نهٔ شي د سپېرو سترګو

عمر له بې کار وې د ژړا سره
وهٔ چې ګوره چا ته په معصومو سترګو

بس کړه د خاطر سره پخلا شه ته
خلق وېر عزت کړي د نیو سترګو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څهٔ یوسې زما په تورو سترګو
زړهٔ دې وړے لا پخوا په تورو سترګو

کهٔ پروا کړمه خو زهٔ به دې پروا کړم
نور دې څهٔ کوی پروا د تورو سترګو

ډېرې سترګې مې د سترګو په هر لور شی
کړم دې داسې وارخطا په تورو سترګو

کړی مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ور به یې نهٔ کړم د دنیا په تورو سترګو

نهٔ خاطر دې د کجلو سلائی وے
ښکلولے دې اشنا په تورو سترګو



بیا دې سهی نهٔ کړم په هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نهٔ مې شته په نورو سترګو شک د زړهٔ
بس خو زړهٔ مې غل دے ستا د غلو سترګو
زهٔ یې کړم آشنا لهٔ شوکیرو سره
یو مې پل خوبونه ستا ویدو سترګو
نهٔ یم چې د زړهٔ په سترګو تا وینم
چار نا لیدلې په ړندو سترګو
خپل مې واړه بد راځي په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د پردو سترګو
ستا دې اوږدو وروځو ته حیران یمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دوو سترګو
خیر دے دا زما سترګې خو بدې شرې
ته خو را ته ګوره په دې ښو سترګو

څومره تږینه وُنې دی حیران یمه
سترګې د خاطر ستا لهٔ مړو سترګو

ریډیو پاکستان پېښور (مسودات)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ما د وصال په شپه کښې ټوله شپه سحر لیدلو
حال مې د ځان لکه مجنون هسې اوتــر لیدلو

دریغه چې شپه وه د وصال خو تر قصته پورې
زۀ په دیدن نۀ مـړېدم چې مې دلبر لــیدلو
بیا د سحر غمونو حمله راوړې کــړه مـه زۀ
سرې ماښام مې نمر اوچت دغرۀ په سر لیدلو ¹
نۀ یې لا هیڅ په سرو لبانو باندې نۀ یمه پوه
لا په اسمان مې چې د لمر په ځای قمر لیدلو
په تصور کښې مې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې مې را یاد کـړل هغه تېر د جدائۍ وختونه
لۀ غمه ډک مې ترهغې پورې اختر لــیدلو

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائۀ رېبار چې مې جانان دې مــرور لیدلو

---

¹ ستر ګلشنه او دیوان کښې چې دغه لرې معنۍ مصرع داسې ده:
د ماښام سرے نمر چې اوچت دغرۀ په سر لیدلو

شوق مې ستا د ږېرو پېغورونو سره لاړلو
زور مې شو اوبۀ د ستمونو سـره لاړلو

خوښ مې اننګي شول د ښو ازغې مې هیر شول
نېږۀ را نه بلبل شو د ګلونو سـره لاړلو
ږېرې مې کړې ټینګې خو اخر مې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو ســره لاړلو
سترګې مې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر مې د ګردونو سره لاړلو
زۀ تر ښه لوګے شم چې به څۀ سوے ترې راشي
نېږۀ رانه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته واسې یار شته لکه زۀ په انتظار یم
ستو رسے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېـږنے نېږۀ پرې مشغولېږي
ستا د تورو زلفو د زنځیرونو سره لاړلو

ځو به دې مهار د عشق نیولے وي خاطره
ژوند د رڅنې هسې د وختونو سره لاړلو

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خو به سره پټ دواړه په زړهٔ ذره ذره یُو
کهٔ دا دي خوښه نهٔ ده چې هرچا ته دي ښکاره یُو

یو دغه ښېلتون دے چې عزت مو په کښې پرېږدے
خو به په کښې وایو چې مدام دي در سره یُو

تهٔ زما په سری ئے شمعې زهٔ ستا په انتظار کښې
هر کله چې وی نو مړهٔ به دواړه په یو شپه یُو

نهٔ به کله وایم کهٔ دنیا په بله واوړی
ګرځی دي نور خلق مونږ په خپله تماشه یُو

پوخ به مې سوګند شی په کښېو د دځو د یار
اوس به دواړه څهٔ رقیبه تود دي په اوبه یُو

راشه مروره چې مې شک لهٔ خاطر وځی
وایو به رښتیا چې دا په څهٔ سره خفه یُو

---

ځ دیوان او منتزلرند کښې سری پسم ... ایتاو شری ... مسرعه ... وزند ... کوی
ګه دا شعر منتزلرند کښې نشته.

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

باد شو مه د عشق د ګړ نګونو په سرونو
پرتهو تم د لسري وطنونو په سرونو

د ږغه چې د ستا د اننګو خوله هم زهٔ وي
پرځي ته چې کوم د ګلونو په سرونو
ستږګې به زما شی اخر غرقې په ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ د ګرداپونو په سرونو
مات په ما نظر کړه چې سپېر ستږګی حق حیران شي
دود مې کړه د لوړو محلونو په سرونو
هسې هم ایږي یمه د باد سره الوځم
سکون مې څله نیسي د زخمونو په سرونو
ځان به خاوري نهٔ کړم غم د یاره کهٔ څو ورېشي
خاورې دي پرتې وی د تېغونو په سرونو

ښکلي به سر تیټ کړی یاره ستا په تصور کښې
و پېرخاطره ستا د غزلونو په سرونو

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څکه مې نن په سوزېدو تېر کړه
چې مې پرون په مسېدو تېر کړه

زما خوښ ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له ټولو مرحلو تېر کړه

دلسوزۍ مه ګڼه تپوس همدمه
زړګی مې عمر په لمبو تېر کړه

زما دا تېر ژوندون زما خوښ نه وو
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړه

یار بیا د چا له تورو زلفو نه ګرم
یو ځلې مرګ را باندې دو تېر کړه

لکه د شمعې بېګا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سلګو تېر کړه

زه چې سپېلی ته ودرېږم نه يمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړه

ژوندون د عشق لمبې ژوندې څه دی
سر مې له واړو ګړنګو تېر کړه

اشنا د ستا د بنګلو مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړه

ښه شوله وېره چې انکار دې وکړو
زما د واړه عمر کار دې وکړو

خلق چې ښه ولې ګوري ودرته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړه زخمونه مې بیا هله شماره
کړه د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زه لا خځه نه وایم چې داغ مې په زړه
ته لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زه له تا نه چا وېرې یم
وار به دې راشي که لږ وار دې وکړو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خیر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصویر وم ستا پهٔ ورو ځوکېدو محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا پهٔ عشق کې
اوس مې نهٔ پرېږدي غمونه اشنا خواب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خو هله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

یو ذره مې لرې نهٔ کړل د مخ نه
فکر یوړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور یادونه مې پهٔ یاد کېږي رانه هېر شول
یو دوه نهٔ راځي چې کېښم حساب ته

طالب زړهٔ به زما هم داسې تنګ تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته

○



زړهٔ یمه حیران د دنیا سترګو ته
ګوره کتے نهٔ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه لېوني شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
راځي شي لهٔ واره ژړا سترګو ته
راځو دې پهٔ خپله اشنا کړې دي
څله مې نو دیل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غورځندې
بیا را نغله هغه رڼا سترګو ته
تا جوړې ارادې د راتلو کړې دي
ښکاري مې رنګینه فضا سترګو ته

نن خو مې خاطره ستا خاطر وکړه
بیا به نهٔ راکوې سبا سترګو ته

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته چې رقیب ته اشارې کړې دا دمل نښه ده
ته چې دا غلې غلې کورې دا دغل نښه ده

کله یقین کړمه په دا چې مرور یې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې د چل نښه ده

ته چې تپوس رانه مُدام کړې چې څهٔ لټوې؟
زهٔ چې دا لاس په سینه ږدم دا مې اول نښه ده

خاطره تا چې بېګا خوب کښې د هجران لیدلے
یقین مې دا دے اخرې ستا د اجل نښه ده



خواږهٔ ترانه شي د خوږو هسې نامه پاتې ده
د بدو شپې دی او د ښو هسې نامه پاتې ده

تهٔ رانه هېر یې خدایه هر څهٔ په دولت کړمه
د دعاګانو د ښېرو هسې نامه پاتې ده

په سترګو ژړو او په زړو کښې سره خاندو اشنا
مهٔ کړه ګیلې د زړه بدو هسې نامه پاتې ده

په دې ره مینه کښې چې زهٔ او تهٔ پرې نهٔ پوهېږو
د عشق د رڅو او د شپېو هسې نامه پاتې ده

چې په پلو کښې به یې په زړونو باندې اورلګو
د ستا د عشق انګر هسې نامه پاتې ده

سبا به وائې چې د خداې په خاطر راشه لږه
په ما خاطر کښې د ژوندو هسې نامه پاتې ده

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

بېګا ستا په انتظار مې سترګې توله شپه کړې
خندل راپورې ستوري چې سپوږمۍ مې راته ګیله کړه[۱]

ور ته سر په زنګانه وم د وصال تکي ته غلی
ما به کله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو په منډه نظر ستا ته چې هر ستوری به ځلک وه
چې د ستا په لور به تللو هغه ستوری به مزه کړه

ور دسره به یې تږه وچوي که شپه وچوي د خاطر نه
په ژړا ژړا قدم شي خو وعده یې ستا پوره کړه

○

۱ صحیح مصرع داسې په کار ده: خندېدل راپورې ستوري چې سپوږمۍ مې راته ګیله کړه



○

لږ د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما په لوري سم کتل زده کړه

په جار خندا به رقیبان پوهه شي
پټ په لېمو کښې مسېدل زده کړه

اے زړه چې سم دا وارې ونه چوې
لکه تنهاکه ترکېدل زده کړه

ته ما خاطر ته نصیحت مه کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
(c) ketabton.com: The Digital Library



○

ما پهٔ شوګیر تا پهٔ خوبو تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته پهٔ ګیلو تېره کړه

بېګا رانغلې شمع دو یه اشنا
ما ټوله شپه پهٔ دربدو تېره کړه

مینه د ستا زما نور زړهٔ سوزوي
هسې لمبه دې پهٔ ایرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا لهٔ خاطره اشنا
د هجر شپه مې پهٔ سلګو تېره کړه

○



○

رقیبه پهٔ خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نوې بس هم دا خبرې کړه

خوبه پړې ستړې زهٔ د اوښکو ګرځم
ګلفامه راشه راشه دغه بیاخبرې کړه
نورې داغمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سبو مې کله کېږدې د ساقي پهٔ پیمانو
د ټولې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپین د اوښکو پهٔ سیلاب کښې
بس زړه شه راته وایه د خندا خبرې کړه
پهٔ خود نهٔ یم تپوس راځنې مهٔ کوه ددهر
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونهٔ کړې د بل چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې و باسه
یا خو ترېخ زمالهٔ ځلې و باسه

یا مې د زړهٔ رازو نه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې و باسه

څهٔ لټوه تنګه دنیاګې شوه دبه
زړې د ږدونه لاڅې شپې و باسه

د آشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
لهٔ دې سرایې نه قافلې و باسه

اور د خاطر د زړهٔ پهٔ خونه شو بل
ستړې د سترګو نه یې مړې و باسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه پهٔ لوری د جانان یوسه

راشه ارمانه دا آرمان دې لرم
کهٔ ځې خو ما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن ترېنهٔ شی
راشه د اوښکو مې باران یوسه

تهٔ چې مسکې شوې زما زړهٔ ته ښکلیه
دا د غمونو ډک جهان یوسه

خوبه زر راشه دا آشنا سره
دومره خو راشه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع روڼه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


○

لکه ګلې لهٔ مسېدو ړنګه شه
بانړهٔ دا نيغ کړه لهٔ اغزو ړنګه شه
چې ستا خوږو زلفو ته نېغه نهٔ شوه
زما څنګل لهٔ زولنو ړنګه شه
کهٔ يې هر څو درسره فصد نيولے
خو زما مينې لهٔ پېښتو ړنګه شه
چې يې ژوندون لهٔ رنګينونه ړک شي
بيا پهٔ غُصه کښې لهٔ نشو ړنګه شه
بس پښېماني لهٔ زړهٔ نه وباسه نن
وېرېږه مه لهٔ اشارو ړنګه شه
چې تا يې هم ګرېوان ته خېرې ووې
هم ستا کوڅه يې لهٔ تېرتو ړنګه شه
بنهٔ دې زړهٔ تش کړه چې بيا بيا نهٔ ولې
فضا زما لهٔ اسوېلو ړنګه شه
بدخواه چې لاس پهٔ سينه کېږدی درته
دخېبر څانګې لهٔ اغزو ړنګه شه
خاطره يار دې پهٔ خېبر کښې اوسی
تېوله دره لهٔ سپېلنو ړنګه شه

○

○

ستا لهٔ سپينه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستانه سپېلنے او هم لوګے شه

ستا پهٔ ژبه باندې هره ژبه خوږند کا
اے آشنا يا اپرېدے يا پښتورے شه

زهٔ او تهٔ دچا ژړا او خندا څهٔ کړو
زما اوښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس د ګُل څنې تهٔ لرې شه رقيبه
يا پخپله باندې ګل شه يا ازغے شه

زهٔ خاطر دې نور خاطر کولے نشم
اے رقيبه کهٔ پوهېږې نو سړے شه

○

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د هجران پۀ شپه ډيوه پۀ لاس کښې راغله
خداې خبر چې چرته تله پۀ لاس کښې راغله

رقيبان خو دې اوس ټول راله راتېرشي
چې يار راغے نو وصله پۀ لاس کښې راغله

چې مې صبر اُميد دواړه پسې خوړ کړل
چې لۀ ځانه خبرېده پۀ لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور يې يوه څېره پۀ لاس کښې راغله

چې پۀ تلو کښې شو مسکے نو بيا به راشي
اے خاطره بس راشه پۀ لاس کښې راغله

ترخې تۀ چې نړۀ کېږې کله کله
پۀ خوږو سپے مې کېږې کله کله

د دردمندو نظر هغوله پۀ کار دے
چې دلاسه دې ښۀ کېږې کله کله

چې اشنا د چا نه ورک شي موندے نشي
پسې ځان هسې ورکېږې کله کله

ښکاري يار مرور نۀ دے اے خاطره
پۀ لمبو کښې چې اوسېږې کله کله

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د ښکلي مخ شمع چې مې سره شوله
جوړه په محفل کښې توره شپه شوله

راشه لږه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره زړه ډکښې چې نره شوله

ډېرې وعدې ښې وې لږې لنډې وې
اوس دې هريو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر ونه کړلو
ښه شوه ډېره ښه شوه اشنا ښه شوله

○



○

بيا به سره ګورو اوس ځواني ده دروومه دروومه
څوک کړي دومره غم څو ديواني ده دروومه دروومه

اوس ته ايله راغلې چې بس وخت د ځنکدن شو
بيا راته ګرانېږي آساني ده دروومه دروومه

مې يې چې بازار کې د ښاېست دے ګرم شوے
هر شے په کښې ختلے دے ګراني ده دروومه دروومه

نه او ته خاطره نور په ځځه سره خوابه ږې
مينه خو هم دا پښېماني ده دروومه دروومه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شرمه
اوس دې چې نهٔ ښکلیه د کوڅې شرمه

نهٔ به په ځان څهٔ وکړم چې راشې تهٔ
واړه دې پهٔ طمعه کښې ذرې شرمه

دومره درنږدې یم کهٔ څو لرې یم
لرې به شم لور کهٔ درنږدې شرمه

نن خو دې خاطره چې سبا تهٔ وے
پوه دې نهٔ د مکر پهٔ وعدې شرمه

○



○

کله چې پهٔ فکر کښې د ستا شمه
لاړ شمه لهٔ ځانه خو بیا راشمه

تهٔ کهٔ لرې ضد نهٔ خو پښتو لرم
اوس درسره څرنګه پخلا شمه
خیال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ کهٔ د خپل زړهٔ پهٔ تماشا شمه
تاوې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کړم چې ستا د زلفو پهٔ سودا شمه
نورې دې د مینې لارې سمې کړه
خدای خبر چې کوم پلو خطا شمه
عشقه راشې ځای لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنیا شمه
نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه پهٔ طمع د سبا شمه

وړې چې غریو نیولی راکتلی دی
لړه به خاطر ته پهٔ خندا شمه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلارې خاوره شوم د ښېروځنې وتلے یمه
اشنا پهٔ تا پسې لهٔ تلو ځنې وتلے یمه

د آشنا مخه نور مې سرے ثېروسے ئهٔ شي
نهٔ خو داور او د اوبو ځنې وتلے یمه

پهٔ ښه ښېرو به دې نهٔ لېږ وېر نا زېدمه اشنا
زړهٔ مې اوس پوهٔ دے د ښېرو ځنې وتلے یمه

تا خو به نور راته خندلي وې چې داخهٔ وشو
کهٔ پهٔ ژړا دې د کوځو ځنې وتلے یمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وشو
نور د کړلو د کلو ځنې وتلے یمه



توبه خټکه تېرېږې پهٔ هوښیار باندې وختونه
نا پوهٔ هسې تېر کړل پهٔ قرار باندې وختونه

هیچرې هم سخیان خو د سبا غمونه نهٔ کا
لهٔ شومانو نه تېرېږي پهٔ خرواړ باندې وختونه
دا تېر وختونه پېږندو لهٔ انکار سره چې تېر شو
نهٔ راشه نور دې سم کړه پهٔ اقرار باندې وختونه
نهٔ دے هسې کرم چې خوک پهٔ غم کښې درو ند بنکاریږي
پهٔ هرچا باندې تېر شي پهٔ خپل وار باندې وختونه
کوره د مغرو پهٔ نهو کښې نوره سودا نهٔ وک
تېر چې شي د ښکلیو پهٔ بازار باندې وختونه
لکه باد هسې تېرېږي وخت پهٔ روغ او پهٔ بیمار
ورد بېږي نه ورد بېږي پهٔ بیمار باندې وختونه
د مغ دې تصور کرم خټکه مخ مې داسې تور دے
خبر نهٔ یې کړل تېر مې پهٔ انکار باندې وختونه

ما خټکه به لټون کړے د دنیا لهٔ غم نه خلاص یم
خاطر ما ښکلي تېر کړل پهٔ خپل یار باندې وختونه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما په مثال لکه پتنګ وګڼه
ته دې د شمعې غوندې رنګ وګڼه

که ې کوثر شول نصیب د دیدن
بیا ې شهید د عشق په ننګ وګڼه

زمکه بستر وی لېونو ته مُدام
زړګیه ته ې هم پالنګ وګڼه

لکه چې خوسره ستا غمونه دي وېر
پراته ې تهول په زړګی زنګ وګڼه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا دیدن په خان قلنګ وګڼه



د ستا د خولې چې فیصله ماته شوه
نوره د زړه ې حوصله ماته شوه

شونډې دې مې د پېدلې نه وې
په زړه دې بله څه راتله ماته شوه
نور ې ساقي څه جُرم نه دے کړے
تشه لا لاسه ې پیاله ماته شوه
که په عوض کښې ې هر څه غواړې ته
دا ې په برخه رسېده ماته شوه
لاس ې ې وکه چې جامونو ته ځ
ما بنام خونه دے چې روڼه ماته شوه

خاطره پرېږده د دروغو تروږ
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

نور زهر په خوږو کښې د افسون مهٔ راکوه
دا بس دے اشنا نور دا زهر په چاودون مهٔ راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشـنا
سزا د رقیبانو په لمسون مهٔ راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هومره لاشې بې وعدې
دا دې وی در پاتې خو زبون مهٔ راکوه

که زهٔ چرې په خود وے نو په تا شیدا کېدم
په سترګو ماله بار بیا د جنون مهٔ راکوه

هر څو که زهٔ خاطره د اشنا اجل ته مخ شوم[1]
دګوډ مبارکي خو په ژوندون مهٔ راکوه

[1] دیوان او منزل ته نه کښې مصرع داسې ده "هر څو که زهٔ خاطر د اشنا اجل ته شوم"

ته خو وایه زهٔ به څهٔ کړم — زړګیه لېونیه
څهٔ به کړم او څهٔ به نهٔ کړم — زړګیه لېونیه

تا خو وې آبادي پرېږده ، ما خو پرېښوه دلته څهٔ دي
په صحرا چې ګرځېدهٔ کړم — زړګیه لېونیه

چې اشنا کړي سترګې پورته بانهٔ ستا په لور دروي
زهٔ بې کوم طرف کاږهٔ کړم — زړګیه لېونیه

زهٔ خاطر درته حیران یم چې په څهٔ باندې راوین شوې
چې په څهٔ دې اوس ودهٔ کړم — زړګیه لېونیه

[1] منزل ته او دیوان کښې (ودهٔ) دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څېګر مې شو کباب په لمبو اور ولګېده
په ما دے یک تنها کۀ په هر لور ولګېده

چې لرې د ر نن دې شوم د وصال په تمنا
د ستا د کُنګرو کانو په ما شور ولګېده
څېګر مې تش ګوګل دے را شه وګوره تماشه
د سوو فریادونو تنک تکور ولګېده
زړګیه اُمید لنډ کړه پس لۀ دې نور لۀ وصاله
بېلتون دې څوانی مرګ شی اوس یې زور ولګېده
سپین مخ دې را ښکاره کړه د نقابه تکه نمر
ور بل دې پرې د ور بڅو غوندې خور ولګېده

خاطره خدای خیر کۀ بیا دیدن وکړې دیارۀ[۱]
چې بیا د غمازانو داسې زور ولګېده

اشنا وې دا لږګی دی د خاطر داسې پلو
رقیب وې ما زیګر شه په تناور[۲] ولګېده

۱ منزل نسخه او دیوان خاطر کښې داسې دے: څۀ خاطره خدای ګډ دیدن وکړې دیار
۲ منزل نسخه او دیوان خاطر کښې تنور لیکلے شوے دے، چې معنیٰ بدلوی او قافیه غلطوی



لوے دریاب د مینې نۀ شی په واړۀ زړۀ
شو مه یاره بیا د ستا غوندې په نۀ زړۀ

چې په خُلۀ کوی یو او په زړۀ بله
د هغۀ سره به مینه کړې په څۀ زړۀ

سوی د ننګ ته چې لږ وکوره دلبره
ما نیولے ستا د حسن په لمبه زړۀ

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رو یه
د هر ستوری سره پورته مې خاته زړۀ

بیا یې خوب واړه تښتیدونه او هیبت شی
د هجران چغې چې وشی په وُدۀ زړۀ

یو غم نۀ دے چې یې وکړې اے خاطره
ډېر غمونه دی کوه یې په ساړۀ زړۀ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

داسې بله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقیب سره راځي

خوشحاله وی په غم کښې هم۱ بېدا ده شاملام
را دروی خوشحالی دې د حبیب سره راځي

خوږي په تندی یې د ازل لیکلی نه وی
دومره زحمتونه د غریب سره راځي

خندیږی او گډیږی سره گلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندلیب سره راځي

نور خلق که رغیږی په دارو د طبیبانو
خاطر ته مرضونه د طبیب سره راځي

○

۱ـ متن لیندا او دیوان خاطر کښې الفاظ هم ـ نشته دې مصرعه یې وزن نه او پې سمئې کړې
۲ـ نظر چې ـ ترکیب مصرع یې معنی کړې



○

عکس د ستا زما د سترګو له زنبار نه وځي
د زړه له کوره مې بېلتون په یو ګذار نه وځي

داسې کوڅې له زه د دروغ ځان په خیال نه درځم
چې تاو را تاو نشی د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع رډیه راشه نور دغه ضدونه پرېږده
چې په مئین دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا د عشق په سمندر کښې مې ډوبنده غوټې ږي
چې په رښتیا غوټې سمندر وی د انکار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ایله زیاتې شوې
ښکاری د ستا د ځوانۍ اوږد شو بهار نه وځي

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې کتے در ته لۀ ډېره هجره نۀ شم
دستا سترګې مې کوڅې دزړۀ نه وځي

خداې دې هغه وخت را نۀ ولي صنمه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړۀ نه وځي

کۀ د سترګو نه مې وځي د ستا سترګې
دې وېل کۀ مې جګرې د زړۀ نه وځي

موده پس سره یوځاې شو پۀ محفل کښې
ستا بانه مې نن نېزې د زړۀ نه وځي

جمع زړۀ لره اشنا چې زۀ د ستا یم
چرته زلفې مې خورې د زړۀ نه وځي

د مخ لرې کړه پلو زۀ دې لوګے یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړۀ نه وځي

تر هغې به دې رقیبه زړګے وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړۀ نه وځي



زړګیه تا وې چې دردونه څۀ دی
دا پۀ ګوګل کښې دې تږکونه څۀ دی

زړۀ پۀ ښو مې وله څوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څۀ دی

بس خو کۀ مخ دے نو ګلنامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څۀ دی

نۀ ده اسانه اشیانه مې د زړۀ
لا د ستم دې تندرونه څۀ دی

د ستا منزل دې دومره نور لرې شی
ګوډو ړندو ته تیندکونه څۀ دی

کۀ مې ذرې کا نور نو لا به ښۀ شی
ستا پۀ فضا لا وسعتونه څۀ دی

چې مرور وی یو ساعت یې ګوره
چې وی پُخلا نو بیا ګلونه څۀ دی

چې مرور یې پېتېدے څو نۀ شې
ما ته پۀ غلا غلا دیدنونه څۀ دی

دا پۀ خاطر ګلفامه ستا د شونډو
وی پۀ خاطر دې پرهرونه څۀ دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

چې پښېمان نهٔ شې په بيا کښې څهٔ دی
پرېږده راوګوره په دا کښې څهٔ دی

زما په اوښکو کښې خندا ده ورسته
يارهٔ د ستا په دې خندا کښې څهٔ دی

شمعې د نن شپې نه سبا جوړېږه
سبا به مړه وې په سبا کښې څهٔ دی

زړهٔ مې يې ستړے په ټوپونو کړلو
ګله دا ستا په دې ګډا کښې څهٔ دی

خاطره ته چې ماته نهٔ شې کتے
لږ ده مې پوه کړه چې په ما کښې څهٔ دی

○

○

ګله د ستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

په دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
دا مې د ژوند د تېرېدو شپې دی

په تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا تورې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ ته به راځې ګله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا زهٔ خاطر درنه تېرېږم کومه
د بېلتانهٔ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وينو غرغرې وکړلې
دا مې د ژوند د ختمېدو شپې دی

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالۍ پټې دي
په دې زندان کښې ازادۍ پټې دي

زړه که ته غځې نه لېوے خونړه یم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

په خوږو زلفو کښې راګورې په چل
په دې ښکلا کښې دې هوسۍ پټې دي

په کومو سترګو به بیا بیا درڅمه
په اشارو کښې دې تهګۍ پټې دي

خاندې چې جوړې شول د زړه زخمونه
ایله په وینو کې خولګۍ پټې دي

څه شو په خوله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلۍ پټې دي

په سرو سرو ګورم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څه بلا مستۍ پټې دي

ستا له سینګاره مې ځوانۍ شه لوګي
وهرې په خاورو کښې ځوانۍ پټې دي

د ستا په خیال زما خاطر شوایږي
خو د اُمید په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دي
نورې نه وینمه سترګې که هر چرته سترګې دي

له هره دره وه تلې سترګې مې آشنا
که ونړې دي که تېرې خو دې در ته سترګې دي
نه تل را ته مرسېږه په دې عمر مه شه جوړه
زما خو هم ګلفامه دې پرهر ته سترګې دي
د مینې سمندره سترګې غرقې مې کړې تا
وتلې مې له تا کله بهر ته سترګې دي
په اوښکو مې کړه ستړه وړه ونه مې د عشق
که ګل یې د مخ رڼی خو ثمر ته سترګې دي
را وه چې خبرې به وړه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دي

خاطره که خو غواړې زړه له تا د یار دیدن
نه نه شم ورکتلے زما نمر ته سترګې دي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ماته هسې بله دنیا ښکاري
تا چې نهٔ وینم نو څله دنیا ښکاري

تنګ کوکل یې دنیاشي چې تهٔ یادشې
بې تا تنګه لاکوکله دنیا ښکاري

بې لهٔ مانه هسې کله صحرا ښکاري
بې لهٔ تا نه هسې کله دنیا ښکاري

چې پهٔ هجرو وصال نه پهٔ کښې پوهیږم
داوستا ده کهٔ چې خپله دنیا ښکاري

هېڅ خاطر دې خزان ونهٔ کړو خاطره
شګفته خوره او بې ګُلمه دنیا ښکاري



زړهٔ چې کهٔ مرګو رانه مړهٔ غواړي
هېڅ نهٔ دے خبر چې مړهٔ زړهٔ غواړي

اے ماشومه زړهٔ تهٔ رانه ښهٔ واخله
مفه رانه غواړې چې ما نهٔ غواړي
تل به بې پروا وي ګرځنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېدهٔ غواړي
زړهٔ او د نظر څخنې دې خلاص کړمه
نور دې لا ښایست راځني څهٔ غواړي
هر سهرے دستا د دیدن ورته نهٔ دے
راخو هم زړهٔ غواړي هم لمحهٔ غواړي
خبر نے کهٔ زهیر شوم ځان ته ګرانشومه
بد هم پهٔ کښې وي چې څوک یې ښهٔ غواړي

خلق پرې تېرشوي لهٔ سرونو نه
څلهٔ ورنه خاطر پهٔ تشه څلهٔ غواړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او د ستا سترګې سره پېژني[۱]
نور به بد کا چې پهٔ دې منع کېږي ځا ښېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے ښېږې مهٔ کړه
سپین زړهٔ مې ستا لهٔ مینې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم په ما انبار وي پروا نشته
د ګلونو لاندې ځانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا واي .خفه شرې؟
زړهٔ مې بنهٔ شي په ګرګل کېږي نهٔ ځاښېږي

زهٔ خاطر داسې هیبت ستا د راتلو کړم
که پانه چې پهٔ ونه کېږي رپېږي

۱ پوهېږي



ما وې نن به مې زړهٔ وچوي خو دردونه دي تېرېږي
پېرېږ دهٔ خهٔ کړي تپوسونه خو وختونه دي تېرېږي

جوړېږې تا اراده کړې د راتلو زما پهٔ لوري
نن مې سترګو ته دوېراندې مثالونه دي تېرېږي

جانانه زهٔ یې زغملے شم کهٔ وي د ستا د لاسه
هر څو کهٔ ستمونه طوفانونه دي تېرېږي

ستا د حسن پهٔ بهار کښې یاره نورې رنګینې نشته
دا[۱] دهر پهٔ خاطر باندې غمونه دي تېرېږي

۱ متن لیکنه او دیوان کښې د الفاظ نشته چې مصرع یې یې معنیٰ کېږي ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څهٔ چې پرې پهٔ ما زما د يار سره جوړيږي
خېر دے زما زړهٔ د انتظار سره جوړيږي

کله پهٔ يو رنګ شي بيا سل ځل پهٔ بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړيږي

وګوره واړهٔ خندکه پهٔ سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډې د انکار سره جوړيږي

څهٔ پهٔ خاطر کيږي نن د ښکليو پهٔ صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړيږي



د وخت د ګذارولو مې داغونه نهٔ جوړيږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نهٔ جوړيږي

يو ځلې چې وران کړے ستا تصوير راله اشنا
عمر هغسې زما هغه فکرونه نهٔ جوړيږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور چې د ګډ زړهٔ پهٔ کښې برجونه نهٔ جوړيږي
اے زړهٔ ته راته وائې چې يار راشي څهٔ به کړو
لا خو به څخې وړاندې تعبيرونه نهٔ جوړيږي
زهٔ خو چې اشنا لا د ښکلا نه لېرې ووم
د عمر لېږلو ته زنځيرونه نهٔ جوړيږي
زهٔ تا ته پهٔ قدم کښې او ته ما ته وې ولاړه
زما او ستا پهٔ منځ کښې پيغورونه نهٔ جوړيږي

خاطره يو وېخ نهٔ ده نن زړهٔ جوړ او سباوران
چې ورېږ کوي غمونه هغه زړونه نهٔ جوړيږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څه دلبرنه پاتې کیږي
ګونده یې یو کړ دې یې د پښتونه پاتې کیږي

زړه مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کیږي
خود به راته غم د خوشحالو نه پاتې کیږي

پېغې مې د زړه د لمن ورژېدې لاړې
غم دې په کښې ډېر شو د نیوو نه پاتې کیږي

نه بلېده صبې اور دمغ دې. دا مې زړه وه
ګوره چې به سکور د سرو لمبو نه پاتې کیږي

تا چې په کړو وینو دعشق بوتلم نړ کیه
څنګه سې لارې د ړندو نه پاتې کیږي



وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
دغه تور لوګي چې د ډیوو نه پاتې کیږي

یاد مې د دنیا له یاده مخکښې مخکښې سدی
څنګه به د ستا د یادېدو نه پاتې کیږي

باده د بېلتون چې مې په لړدی بیا را نه شي
سترګې مې د یار د تماشو نه پاتې کیږي

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاورې یې خاطره چې د پښتو نه پاتې کیږي[1]

بیا را غلله شپه او څلند ستوری یار را نغې
بیا به مې خاطر نن د خوبو نه پاتې کیږي

---

[1] د دیوان کتبو مصرع داسې ده: خاورې دې چالاندې چې د پښتونه پاتې کیږي

[illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې کړه برندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې کړدونه وارخطا شي

خو به کړې وعدې راته دغسې او د سبا
ډېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي

نۀ درته لۀ داره په محفل کښې کښېنۀ شم
سترګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي

عقله چې يې ووينمه زلفې تار په تار
بس خو يو ګرېوان ته مې لاسونه وارخطا شي

دومره اے زړګيه ! ځان ته مۀ بښکلوه بنګلے
وبه چوې لۀ واره کۀ دردونه وارخطا شي

غلۀ سره د مينې په محفل کښې چې يو ځاې شي
زړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي

مل يې کړه د زړۀ مې کۀ پۀ خُلۀ نۀ بيانېږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي

ځکه زۀ خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پېښېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

مياشتنۍ ژوندۍ پښتو اکتوبر ۱۹۵۹ع

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

پۀ اَرمان د نادانۀ شي چې هوښيار شي
خوشحالي او خوبي يې ودک شي غم يې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي يې پۀ کار نۀ وي
پۀ اَرمان د روغ صورت شي چې بيمار شي

پۀ توبه باندې ډېر بد بښکاري چې زوړ شي
بښکاري بښۀ چې پۀ ځوانۀ کښې توبه ګار شي

لېونۍ پۀ کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښيارو ځنګدن پۀ يو ګذار شي

خپله غمه د يار غم يې لس مېلمه دے
تا به وکړمه وار وکړه کۀ دې وار شي

تۀ دې خپلې سترګې وګوره چې څۀ کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

د دې دنیا نه چې ګلان ورک شي
غنې د بلبل به په بوستان ورک شي

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هېڅ نه ده
لکه دریاب کښې چې باران ورک شي

هر سړی چې سود په لېونتوب نه کېږي
چې په منګل کښې یې ګرېوان ورک شي

څوک به لټوي مه ستا ورک شوي پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شي

○



○

چې یې روڼ دے د لېمو په پېمانو شي
سو دې کله بیا د لب په بهانو شي

څو چې خدای را کړې نه وي توبه ژاړم
د خېبر فصلونه تل په بارانو شي
که د ستا په نوم بدنام یم پروا نشته
لېوني غېږونه تل په لېونو شي
زه د ستا لېونو سترګو نه ځار نه کړم
که خویونه دې د سترګو لېونو شي [1]
هغه شپه چې مې د ستا زلفې په لاس وې
دغه شپه د سپېلنې د وږاند بسو شي [1]

چې د نږه کوب ته دې ناشي پروا مه کړه [2]
اے خاطره خاطر تل د مېلمنو شي

○

---

[1] که دا دواړه شعرونه متن لرنه کښې نشته

[2] دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده: چې د نږه کو د لوره غله ودې سیزي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کوږې را تاو شي
زما د زړۀ ځنې رسۍ را تاو شي

پۀ سره پړه لوپټه کښې تاو شي
لکه وړانه بر بوکه را تاو شي

نۀ به مې بیا کړې لېونې د غرونو
نۀ به دا ستا سترګې هوسۍ را تاو شي

پۀ زړه بوږې خوبه وانۀ وېم لۀ تا
نۀ به خاطر ستا لا ځوانه را تاو شي

وړاندې به مې دا وې چې کاته به شي
اوس چې پۀ ژوند پوه شوم وایم څۀ به شي

وایم ستا بڼو ته د زخمي زړۀ نه
بس دے کۀ وی داسې نو ساړۀ به شي

نۀ وم ما لۀ داسې جدایۍ خبر
ما وې پۀ ساعت کښې تلۀ راتلۀ به شي

وې کړو تپوس چې راځه ځۀ غواړې
ما وې چې کۀ راشې نو خرابۀ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نۀ يې پرېږدی دواړه سره مړۀ به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړۀ خو د خاطر اوبۀ به شي

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه په ګوګو کښې د جګر ګوخبرې نه شی
چرته چې په سوڼ کښې د پردو خبرې نه شی

دېره شپوله راشه چې له یو بل نه خبر شو
یاره په یو شپه د ټولو شپو خبرې نه شی

وایمه له ځان سره چې دا به ورته وایمه
راچې شی آشنا په حوصلو خبرې نه شی

زه او ته چې وو ینو له ورایه سره پوې شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړه خبرې نه شی

یاره ستا د هجر اوږدو شپو شکوې کړې یم
ګوره چې مې اوس په اسوېلو خبرې نه شی

خدای خبر خاطر زه بیا چرته ته بیا چرته
پرېږده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نه شی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



خزان لاړ شی بهار راشی ګلان خوشحاله شی
بلبل یې د چمن وی بوراګان خوشحاله شی

ن خو مه راګوره مخ دې بل خوا واړوه
پرېږده چې نا پوهه رقیبان خوشحاله شی

شمع چې بلېږی د محفل د پاره خاندی
زړه کښې داسې وایې چې عاشقان خوشحاله شی

راکړه جفاګانې، ستمونه که غمونه وک
زړګے د خاطر وچوره خو چې خان خوشحاله شی

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دا ستا په سترګو کښې به څهٔ پاتې شي
رقیبه یار که مې په خُلهٔ پاتې شي

سترګې مې دومره سحر وختي پاڅېږي
په شوګیرو مئین وعدهٔ پاتې شي

یو ځلې نیغ په دې لار تېر شه اَشنا
چې دې کاږهٔ واږهٔ کاتهٔ پاتې شي

افسوس چې ستا په خیال کښې څهٔ ښکاریه
دغه ارمان به مې په زړهٔ پاتې شي

وستایه ږېره د یار تراخهٔ خاطره
چې په کتاب کښې دې خوابهٔ پاتې شي



زړهٔ په دې نهٔ دے چې ناولے مغ دے
چې کوم یې خوښ شي هغه ښکلے مغ دے

مخونه ډېر دي خو دا مغ مې خوښ دے
والله په ټولو کښې وتلے مغ دے

پرېږده چې اوښکې مې بهېږي په مغ
دا بې ګناه جانان رټلے مغ دے

څهٔ وشو تا که دیدن بند کړو په ما
خاطر په زړهٔ کښې ستا ساتلے مغ دے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله لهٔ غمونو نه وزګار دے

ستا سپنګار زما په سترګو کښې غړېږی
چې په کوم لورې نهٔ ګورمه بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
کهٔ یقین دې شی نو هر عاشق په دار دے
خندوی، تغیروی چې ې ستا مینه
بس هم دغه ې خزان او هم بهار دے
دا رقیب دې څهٔ په مخکښې مخکښې کیږی
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

کهٔ دې یار لهٔ سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته وېسه دا یار دے

---

میاشتنی غنچه پېښور

---

اګست ۱۹۶۰ ء



خوږ خوږ یو د مینې پهٔ ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه پهٔ تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې پهٔ ما څومره اوږدې کړې دي
ښهٔ دے چې د ژوند پهٔ ورځو شپو کښې انتظار دے
مهٔ کړه ضبطه مه چې راله او ښکې وچې نهٔ کړې
وړېږی دې د چا پهٔ دې شپو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو پهٔ ما باندې ونهٔ نیوهٔ
ما ته څهٔ د هجر پهٔ غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د زړګی شنې پاڼې ې وچې شوې
بیا در ته سپرلیه پهٔ راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې کهٔ نن نهٔ وی سباله به دې خوښه شی
وړې ې درته کړے پهٔ اسرو کښې انتظار دے
کله به شی ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو پهٔ تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلی وو
ښکلیه ستا دیدن پهٔ سرو لمبو کښې انتظار دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه څومره بې وفا زما دلبر دے
چې لا غمه یې زړه مرم په ده اخته دے

د هجران د لاسه شپه و روز ژړېږمه
څکه داسې یې په اوښکو ګرېوان تر دے

یا خو زه ورته نظر کولے نه شم
یا خو دے وږې په لحن نبي نو دودے

اوس یې سود په بل بشر د زړګی نه شي
چې لیدلے یې د یار ښکلے بشر دے

تور بانړه د یار د غشو په مثال دی
چې ویشتلے یې زما د زړګی سر دے

دریغه زه خاطر خو پوه په سپیل قصور کې
چې په څه باندې زما نه مرور دے



ما وې ځان را ته اشنا د ستا په څېر دے
دې وې ورو وستی به ته پوه شې څه وایې خبر دے

دې وې زړه که څیرې ستا زما په زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاوشپږ دے

دې وې زه یمه هر سحر په مېږو روبه
ما وې زړه زما د لوړو غرونو شېر دے

دې وې بیا ته مخ ښکاره کړه که پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا له سره تېر دے

ما وې زه خاطر دې هر وخت یم په طمع
دې وې را شه دلته کښېنه غم یې ډېر دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا مې دلبر نه ډک دے
د زړهٔ جهان مې د لوګو د اسویلو نه ډک دے

خوښه مې ستا پهٔ بېوغشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنی وطن خو هسې یا ره د ازغو نه ډک دے

د ستا نصیب شه خوشحاله د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ډک دے

نن مې مخ ته مې لهٔ ورایه ناخبر کتلي
نن را ته ځکه دا جهان د پلوشو نه ډک دے

را شه ګلونه ګوا هان دي پهٔ صحرا کښې زما
چې تول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ډک دے

د احسرتونه داغمونه تنګ ګوګل زړه کښې
لهٔ دې خوګو بنهٔ دے هر خوکهٔ د تیارو نه ډک دے

زړهٔ مې یوه د لېونتوب پهٔ کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ډک دے

همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې شوې قصې
زما زړګے خو د ختنې لا د ګیلو نه ډک دے

زما خاطر پې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ډک کړو
د مغ کتاب دې د الله را وړه د قیصو نه ډک دے



تک تور سوے د ستا سوے ودبل دے
چې دې اور د بنګلي مخ ترې لا ندې بل دے

چې خو ځم پهٔ مخکښې لا منزل زیاتیږي
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

زړې بې شک پهٔ ګومه لار دے سودائي شوم
نور دې هیڅ مو نده نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې پهٔ کښې اوسي اے خاطره
خیبر و ګڼه حرم کهٔ خوشحال دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څومره ورېږي پهٔ زړګي باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نهٔ شي وائي کم دے

زهٔ چې مستې پرېشان او سرګردان يم
مرېو غم يې لکه زُلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه يو وارې پهٔ سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده کهٔ چا راوړه
پهٔ کوم ځاې باندې يې ايښے چې قدم دے
ټول عالم يې وهٔ صفت د سخاوت کا
ګيله څهٔ کړم چې داخپل نصيب مې کم دے
زهٔ خوشحاله مستې شومه پهٔ خندل يې
خلقه ما او پهٔ جانان کښې کوم يو کم دے
چې دلبرې پهٔ ژړا پورې نن خاندی
نن مې شوے مې د سترګو کله نم دے

حکيمانو له مهٔ درومه خاطره
د يار شونډې دې پرهر له مرهم دے



ستا پهٔ انتظار کښې ماته کال څهٔ دے
دومره لا ماندہ نهٔ يم ستا خيال څهٔ دے

سوزې هم هغه چې پرې بلېږي اوره
خاندہ لے اشنا تاته ذُغال څهٔ دے

تاکهٔ پهٔ شالهٔ کښې پټه ولېدم
بيا به داسې وائې چې مشال څهٔ دے

زهٔ دې مړ يو غم د زړګي داغ کړم
ماته لا د ستا پهٔ جبين خال څهٔ دے

ما خو درته وېل وړېږه مې مهٔ ګوره
وګوره خاطره اوس دې حال څهٔ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نږدې مې ستا په تور دے په بل تور مې پېژنو نه دے
نظر چې ستا په لور کړم په بل لور مې پېژنو نه دے

اے مجره چې مې ورانه نه کړې دا د زړګي خونه
ارمان په کښې د یار کړمه په کور مې پېژنو نه دے

دا نه چې ځې بنا پست باندې شیدا دے زما زړه
د ستا په مخ دې سوزی خو په اور مې پېژنو نه دے

په غیر ستا د محفل ځنې یې نه شي ځه ګذران
د دروی به خاطر خو په پېغور مې پېژنو نه دے

چې لب نظر مې د بصر پاتې دے
جوړې منزل ته ډېر سفر پاتې دے

شپه که اوږده د خوږو زلفو ده ځو
وار دې د سپین مخ د سحر پاتې دے
ناز دې د مینې د لمبو ځنې زړه
لا مې په مینه کښې ځیګر پاتې دے
تېر سو د شپې وکړه که وکړې یقین
ستا انتظار رانه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تته نه شي
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا په سر وطن ګڼلو
خبر شه اوس رانه خبر پاتې دے
نه او انکار له تا په کومو سترګو
لا مې د تن د پاسه سر پاتې دے

نه د دربار په ځله رخصت ځکه شم
د یار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لنډو پلوښو به يې ښکته خمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

نن دې ونهٔ وې په وعدهٔ کښې راته
هره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مهٔ کړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے

○



○

د ځان سينګارولو کښې مسکے وې ما ليدې
زما د زړهٔ په سولو کښې مسکے وې ماليدې

پروت مې څهٔ پرواه ستا په ګذاب نهٔ وه صنم
زما په زړهٔ ويشتلو کښې مسکے وې ماليدې

شاهد چې وه دريا ده حيرانتيا مې هغه وخت
ائين ته په کتلو کښې مسکے وې ما ليدې

خفه يمه په دا که بنهٔ يې ستا لهٔ سپي کړم
رقيب ته په وېلو کښې مسکے وې ما ليدې

لبان دې لکه پاڼې انګي دې سرهٔ ګلونه
سحر چې تهٔ په ګلو کښې مسکے وې ما ليدې

خبرې په غصه کښې کړې هم د چا خاطره
اشنا چې په کتلو کښې مسکے وې ما ليدې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اشنا مې نن ليدهٔ تېرې وعدې را يادېږي
دا وصل کهٔ هجران دهٔ ، چې کېږي را يادېږي

بس دهٔ مې ستا ارمان پهٔ زړهٔ کښې نن خلاوده[1]
را نهٔ چې ماته نورې مرحلې را يادېږي
هم چې فراقجن به نن سبا را يادېږي[2]
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را يادېږي
کهٔ هرڅو شوي ، نن يادله چې هېر دې شم بنهٔ[3]
پخوا مې لا پهٔ زړهٔ کښې اوسېدې را يادېږي
هم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو نهٔ
چې چرته خو به خاورې باد ېږې را يادېږي
زما د زړګي يادشي د مخکې نظر سره
پهٔ هيڅ نهٔ هېرېدلې هم راسې را يادېږي
را نهٔ چې اَهو چشمه اوس يې غټې سترګې
د ستا خمارې سترګې لا نرې را يادېږي

بېګا چې شمع رويه هرڅهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل بنکلې تماشې را يادېږي

---

[1] مصرع بې معنیٰ ده



زما د اُميدونو ونې شپې وغزېږي
هرڅو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغزېږي

اوس چېرته تربنه لاړ شم لېونے چې کړمه يار
هرځاې کښې يې د زلفو زولنې وغزېږي

نمر مخ ئې اوس دې سپې لارې ماته کړه کړکۍ
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېږي

چا هسې راسې يعنې چې خاطر کړو يادګلا
پهٔ دې د رقيبانو جنازې وغزېږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلې وې، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډو صبغ ونه وې
بس که په تا به یادېدې شونډې

سترګو له زه که قسمونه ودکړم
زړګیه ته کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رېږدېدې شونډې



پوره شومه په دې چې په کنځل کښې خنګه ښکارې
وخانده یو ځل چې په خندل کښې خنګه ښکارې

ستا د تصور په یو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وایه په محل کښې خنګه ښکارې

شومه به په باغ کښې ته په غوټو کې خپل ځان ته
ګله د آشنا په سره منګل کښې خنګه ښکارې

ستړې یې په ما کښې دې چې ګورمه هر چا ته
نن راته اے شمعې په محفل کښې خنګه ښکارې

تا به په آئین کښې ځان لیدلے په یو رنګ وی
راشه د خاطر په هر غزل کښې خنګه ښکارې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

اے ګله! چې ستا پښې د خندا نه سترګې لاړې
نو خود به لرې بړې د ژړا نه سترګې لاړې

نرګیه! پس له دې به یې د ستا په سترګو ګورم
نظر به وه اشنا، چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بد نګه شوه مه ګوره یار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وړاندې به له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې که ورګورې نو اوس بیا مخ پټوې
نو کوزې یې ګرېوان ته له حیا نه سترګې لاړې
بلبل ته په کاته شو او په نهو نو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه سترګې لاړې
لږ راشه شمع رویه! لرې ګوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې مې له ځانه سترګې لاړې

نو څه شو که مړې د خاطر سترګې په تا نه شوې
چې دړې داسې وینې له دنیا نه سترګې لاړې

میاشتنی «قند» مردان
(غزل نمبر) جولائی، اګست ۱۹۸۹ ع

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بیا به څه کړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بیا به څه کړې

د رته کتے نه شم حیران یم د اشنا سینګاره
تا مې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څو به بسېږې او دا زړه ته تل ته ماته کړې
چې یې پېرزو نه وی دعا مخه اشنا به څه کړې

چې څه یې وکړل مخه یې تړل وکړل په تا خاطره
وایه چې تاله په لاس راشی په اشنا به څه کړې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د بېره خوشحالي به نۀ ده بيا رانه هېرېږي
کله کله غم راکوه تل چې مې يار د بېږي

زۀ دې يم لېکے پټېدے نۀ شي رانه شمې
خدايږو د دنيا نه پۀ تيارو کښې به بکارېږي

ما ته د اشنا د وعدې هر يو ځاې اشنا دے
اے وږيه نظره تۀ پۀ هيڅ هم نۀ مړېږې

ستا به د خاطر نه وي پۀ زړۀ کښې څۀ تږشوي
دومره بې پروا يې چې پۀ مخ کښې مې تېرېږې

---

له مستر لرنه او ديوان خاطر د دواړو کتابونو کښې تاريکه شوے دے رېږي خيال سيمکرے



لکه مجنون غونډې کړځم پۀ بيابان درپسې
وايم پۀ خُلۀ ليلیٰ ليلیٰ ځيرې کړېوان درپسې

نۀ شوم خبر نۀ د وصال لۀ خوشحالۍ نه چرې
لکه وحشي کړمه غمونو د هجران درپسې

نۀ دې اشنا يم نۀ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا مې نشته دے پۀ تا نۀ کړم خفګان درپسې

چې تۀ بيا نۀ وائې پۀ ما چې تۀ شيدا نۀ يې تۀ
کۀ د کمرو مې ګذار نۀ کړو خپل ځان درپسې

پۀ حال خبر شه چې نن دې را نۀ شي خواله زما
چرې پۀ لاس کړې خاطره رقيبان درپسې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان په توره شپه کښې

له تېګه و بې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع رو به
څو به کړمه دا ګریان په توره شپه کښې

زهٔ خاطر د ستا د زلفو نه ډار نهٔ کړم
مالیدلی دی ماران په توره شپه کښې



چې د سترګو دی ښکار زړې زما سترګې
چې یې نهٔ شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړهٔ کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې درکوم شی نمڼځې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لږ راکوه د ننداره
در نه غواړی جوړې بخښنې زما سترګې

دهرچا دې دیدنونه مبارک شی
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا باندې خوږ نهٔ شی چې زړهٔ ژاړم
ړکې ستا د در لسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نهٔ درکوی
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

خو د هرې يوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
ځهٔ زو خونه پرې د ګرمو اوښکو اوړی
په ژړا دغم پخې شوې زما سترګې
چې سبا به ګانې ستا په در کښې نيسم
خو د هرې يوې ناوې شوې زما سترګې
بيا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د يار زر ځل ديدن غواړی
د اول نه وړې بنې شوې زما سترګې

نهٔ خاطره په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

میاشتنۍ «غنچه» ستمبر ۱۹۶۰ ء

○

د ستا چې نهٔ وينم دا تورې سترګې
په کار مې نهٔ دی دا پورې سترګې

نهٔ به يې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا په پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پيمانه څهٔ کومه
چې د اشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
په تصور کښې خو يې ګورې سترګې

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځه وشوې چې ستړګې دې په تا باندې خوږې شولې
چا ته پوره نهٔ شوې چې د ستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګرېوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نهٔ شلېږي د ستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو وېل چې د ستا خُلهُ ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څنګه دومره خُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مينې افسانه زما په شونډو ده
خورې افسانې مې په نړګوټي کښې ورستې شولې

ستړګې د خاطر کهٔ ستا په ستړګو تېر وتلې دي
ګوره مه دا بدې کهٔ زما په حقله ښې شولې

تا به کتو غل چې ته خاطره د ورک شوي زړهٔ
نهٔ ګورې چې تا ته د اشنا ستړګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ايسارېږم ولې
چې پښېمان يې تيارېږم ولې

پهٔ يو ساعت کښې دې بيا بيا ژړوی
چې اوس ژړېږم قرارېږم ولې

دريغه چې مړ دې د ستم نه وې نهٔ
چې نهٔ مړ کېږم اوارېږم ولې

نور به دې څهٔ وکړي باڼهٔ په خاطر
ټول دې پرهر کړمه وېرېږم ولې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوښکې نهٔ کمیږي خوږا ماتې شوې
تا چې خندا وکړه نو رازیاتې شوې

څو ځلې د اوښکو سره درغلم
دا څنګه جرګې او ننواتې شوې

څو به ګوري ستا سترګې نماسترګې
لږې دې وي خبرې دے هو چې زیاتې شوې

تا چې د خاطر سره څهٔ کړي دي
خبرې دے اشنا دا چې درته پاتې شوې



تهٔ به پهٔ زړهٔ کښې ماله څهٔ راکوې
کهٔ راکوې ماله به زړهٔ راکوې

منع به نهٔ شم ستا لهٔ دره څنې
پهٔ دې دې نهٔ یم کهٔ څهٔ نهٔ راکوې
څهٔ لوي اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
تهٔ به لا سونه ما ته بښهٔ راکوې
داسې چل وکړه چې پرې ودودېږم
سبا به ښکلیه یو لمبه راکړه
دا خوشحالي به ما ته څوک راکوي
چې ټول غمونه راله تهٔ راکوې
چې پړوند او ګوږ دې کړم نو ماله بنه شوې
اوس خو به هر څهٔ پهٔ کالهٔ راکوې

ضد لهٔ خاطره سره مهٔ کوه تهٔ
کهٔ یو اوان راله پهٔ ځلهٔ راکوې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ خو چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوې لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې

هر څوک کهٔ مې د زړهٔ قرار دولو له راځي
پرهېزم ولې نه چې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وي کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو ښکلولو له راځي

غمونه د اشنا نهٔ اوس پهٔ هیڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
نېغ مې له زړګي وُفُ کاږه چې راته ګورې

کله چې د زلفو وربېځ لرې کړې له مخه
شي دې پلوشې ښکلې بانه چې راته ګورې

هغه وخت لېوني وک ته چې مخ راځني پټ کړې
داسې معلومېږي لکه بنده چې راته ګورې

ته زما د زړه نه د خپل حُسن تپوس وکړه
زه به درته ووایمه څه چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مه راته راګوره
زه درته کتے نه شمه ته چې راته ګورې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوس را نه هیڅ نهٔ شی خطا ده
لهٔ هرڅهٔ هرڅهٔ وو تـمـه
ګرانه اشنا دا ېې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

نهٔ در نه خفګه هېرېدمه ‎ ‎ ‎ ‎ خپلو وعدو نه و شرمېږه
تا چې خندل نهٔ ژړېدمه ‎ ‎ ‎ ‎ لهٔ هغو شپو نه و شرمېږه
هېره زما تر وله دنیـا ده
شام و سحر دې یا دومـه
ګرانه اشنا دا ېې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تـا مئینېدمـه

غر پهٔ غر نهٔ ورځي صنمه ‎ ‎ ‎ ‎ چې وی ژوندي لغر به راشي
درته پهٔ ژړه کښې به یې ساتمه ‎ ‎ ‎ ‎ پرېږده چې مو ږ بهٔ پهٔ جنا شي
زما پهٔ سترګو کښې حیا ده
نهٔ یې پهٔ څـهٔ دروا ړومه
ګرانه اشنا دا ېې سزا ده
نهٔ چې پهٔ تـا مئینېدمـه



تل به پهٔ هرڅا داسي کېږي ‎ ‎ ‎ ‎ پهٔ داسې خلقو چې اعتبار کا
لهٔ خپله ځانه چې خبرېږي ۱ ‎ ‎ ‎ ‎ لهٔ اکرم ګلو به یې ګـذار کا
د ښـکلو مینه بې و فـا ده
نهٔ به یې څـهٔ در تـه ستایمه
ګرانه اشنا دا ېې سـزا ده
نهٔ چې پهٔ تـا مئینېدمـه

خاطر خوږ مهٔ وـے در کتلی ‎ ‎ ‎ ‎ اوس یې ژوندون اختیار دے
هغه چې تا در ته خندلی ‎ ‎ ‎ ‎ نن یې د نوری خندا تور دے
زما د زړهٔ خـوږـه ژړا ده
څکه یې نهٔ قـرار ومـه
ګرانه اشنا دا ېې سـزا ده
نهٔ چې پهٔ تا مئینېدمه

۱ دریابه ځایه د (ځه) په ځای (د) لیکلی شوی دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

نهٔ به خهٔ کړم ګریوان چې یار راکړه ګُل
پهٔ زخمونو ملهم به کېږدي د ګوګل
هسې هسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خندې دوته جوړې شوې
مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سم تل تر ځیګر ورسېدو
بې لهٔ سوزه خو ځیګرک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
تهٔ طمع د دل آزاره مهٔ کړه
اے شباب خاطر د هیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا



شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبانو ستا نهٔ د ښامار پهٔ شان خوږے یمه
نهٔ دې د سترګو پهٔ بڼو باندې ویشتلے یمه
څې مې لهٔ خُلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غورځندې ژړېږمه زهٔ
اوښکې مې څې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې تهٔ کوې پهٔ ما ظلمونه راته پېغور د صنمه
خاطر کوې در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې زور د صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تا چي زړهٔ با بُللے دے
تا ووې ربار ته پس لهٔ دې به څوراځی
خبر دے کهٔ تش تور يې دې پرون زړګے شړلے
خيال يې وهٔ سکار ته پس لهٔ دې به څوراځي
وبنا يه څيګر راته | اوس دزړګي سرراته
وايه د بنوغشو پهٔ کوم کوم ځاې ويشتلے دے
لاس کښې آئينه يې وه | کړې چي کينه يې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځي
څنګه مړې درشمه | پهٔ حال دې چي خبرشمه
لاس کښې دې رقيب راته ډک تورپک نيولے دے
يو خلي درغلے وم | وهر دې زغلولے وم
غلے وم ديدار ته پس لهٔ دې به څو راځي
ماچي کوم ستم کړے | اوس يې پهٔ تاکم کړے
دا دځوانۍ ولړ پهٔ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا | کړې به تل سلام دستا
پرې يې بړده دربار ته پس لهٔ دې به څو راځي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin



نن خو راته مهٔ وايه چي نا | تر سبا
سود يې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا | تر سبا
وايه اشنا راته، تهٔ زما تعبير نهٔ يې
وی چي تل پهٔ خيال کښې يې تهٔ صفه تصوير نهٔ يې
بله راته ښکاري دا دُنيا | تر سبا
سود يې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا | تر سبا
راکړه ساقي دا سې مئ چي شي زما اوستا نشه
هم پرې دچوپتيا نشه هم پرې د دنيا نشه
جام دلبره راکړه پهٔ بيا بيا | تر سبا
سود يې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا | تر سبا
نن خو دې راجمع شهٔ پهٔ مښېر کښې کيفونه دک
ستړګو پيمانو کښې دې رنګ پهٔ رنګ ستونه دی
ګلې دخاطر شه پهٔ ربښتيا | تر سبا
سود يې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا | تر سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم په چم
لوند مې کړېوان دے خاځي مې نم

مينه وفا دې نشته
په چا پـروا دې نشته
وېره له چا دې نشته
کوه ستم طلب کړم صنم

رنګ مې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه
وکړه کرم طلب کړم صنم

مينه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا
د ګل په چم طلب کړم صنم

ے منزل ... ديوان کښې مصرع داسې ده ـ چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نۀ وباسې، زما او ستا نه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه
زما او ستا دلته ځۀ دی، خو يوه مينه
دا خو هر چرته کېږی، چې راسې وينه
ځان له به جوړ کړو بوستان، په بيابانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه
خو به په وېره سره، ديدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
ته شه له زلفو تېره، نه له کړېوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه
دا ټک دمينې نړونه، به دواړه يوسو
ځه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
يو دې چار ګل په پوښ، بل دې پېزوانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه
دا مې په خوا خاطر کښې، نه وو صنمه
چې زۀ خاطر به شمه، په خاطر جمعه
ځکه چې ستا له غمه، ډېر يم پرېشانه
راځه چې درومو دواړه، له دې دنيا نه

ے منزل ... ديوان کښې (د) ده [illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د سین نه کال ته دپېر غمونه
له داسې ژوندنه مرګ بنه دے راته ښه
الله دې خېر کړي

ستا د ممانو فریادونه
هېر به مې نه شي

لکه د زانې قطارونه
هېر به مې نه شي

پاس په اسمان کښې چهانونو سره ځینه
الله دې خېر کړي

د پښتنو فقیرو ژوندده
خنګه به تېر شي

تېر خو به شي په لوږه تنده
خنګه به تېر شي

په مصیبت به دې خوک سر ته رسوینه
الله دې خېر کړي



نوم د پښتو راځي هېر شو
څوک ئې یاد یږي

غم د عفوی را سره پېر شو
څوک ئې یادیږي

څوک چې د قام او د اولس خدمت کوینه
الله دې خېر کړي

خاطره صفه خلق ستا به
په خپل کتاب کښې

تل په بار بار د غښي وا یه
په خپل کتاب کښې

حاجي سره ته په وطن ورکړي دینه
الله دې خېر کړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې توبلې په سبا سبا کښې تیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د بنا ښسته سترګو د پاره   ګلګوره مانه ښکلیه یاره
څومره لبې ې په نېګرتي باندي تیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خداې د پاره بس ګړاشه   که مرو دې راځغلاشه
ستا د راتلو په انتظار ې سترګې ستړې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې   زما د زړه څخې جدا شوې
زما د استړې شوګیرې دې تولې هیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطره زه ځان ته حیرانه یمه   که لېرا ګورې بس روانه یمه
د پیغلتوب ملګرې تولې دا نه ګیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه د رسته ته ده



واوره صنم زړه مې نه شي له تا نه
ویلے نه شم زه څه له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه بښه دی په ما
زړه مې د ستا د پاره واڼي چې وی دې په ما
واوره صنم

په کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کیږدې
د هر د مینو په زړه باندې داغونه کیږدې
واوره صنم

زړه مې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر د هر ګران دے په ما چې په خنداشې صنم
واوره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

په تش ديدن باندې يې ته ته مشغولېږه
ځم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

له هرچا پټه پټه ستا يارانه به کړمه
تاله چې درشمه زه ځه بهانه به کړمه
په انتظار کښې يې له ځان سره ثېرېږه
ځم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تابه هېڅ نه کړمه
يوساعت يې له تا به په نور ځه تېر نه کړمه
په دې سودا يې ورده کېږه راوېښېږه
ځم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماه تابان شو سره
بل يې کاروان د ستورو په کهکشان شو سره
د سبائي د خيال خوبونو کښې زنګېږه
ځم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

ځان ته دا ټوله دُنيا خاطره ما وکړنه
په کښې يې مخ او زلفې بېګا سبا وکړنه
د نېړه په مينه يې په ستر ګو کښې او سېږه
ځم مه خفه کېږه بله ورځ به راشم

له ځه په ديوان او منتخبه کښې (د) دے



ته چې په مرګ زما رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې
ستا رضا ده چې داسې ثېړېږم
په عالم کښې داسې ګرځېږم
په محبت يې نا رضا يې
ما ته قبوله دلربا يې

عاشقي وه پېدا له اوره
لېږ زما سوی نړه ته وګوره
جوړ په معنیٰ قيمت بها يې
ما ته قبوله دلربا يې

خاطر ته ګوره داسې حېران دے
په محبت کښې ستا بنديوان دے
يې کبرجنه بې ريا يې
ما ته قبوله دلربا يې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوبنه دې شوه وله زماداشنا مینه
اے زړه غمګینه

اے زړهٔ ذرې شه
خاورې ایرې شه
ځې دستګو د زړګی وینه
اے زړهٔ غمګینه

راشه کړهٔ وینې
د زړګی وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړهٔ غمګینه

خاطره دا شپې
تا نه جدا شپې
جوړ د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمګینه

اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
ځهٔ به د بنګلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لاهغه د ازغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
اوس به تول بوټی سره ځان وښائی
څوک به کلی، څوک به ګلان وښائی
لاله به هم خپرې ګرېوان وښائی
هم به بلبل شور و فغان وښائی
اوس به ښاخونه د رنګونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



جونه به ولونه د بلبل جوړوي
پۀ کښې ځالونه به د ګل جوړوي
سرو سرو غنچو نه به منګل جوړوي
پۀ آئینو کښې به کاګل جوړوي

دغه جهان به لۀ نازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلي ځلمي به پۀ شملو کښې بندي ګل
اوس خو به جونه پۀ کمڅو کښې بندي ګل
پېر ارمانونه به پۀ زړونو کښې بندي ګل
څوک به د زړۀ پۀ پرهرو کښې بندي ګل

داسې به زړونه پۀ داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زۀ کوم ژړا د چا خندا نۀ وینم
چې یې لیده هغه رڼا نۀ وینم
ګل د رخسار چې د اشنا نۀ وینم
زۀ نور ګلونه د دنیا نۀ وینم

څوک لۀ جهان لۀ دیدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوړے جهان رڼوي
زړۀ پۀ ګوګل کښې یې جانان رڼوي
د مینې ګل را نه هجران رڼوي
نۀ کړې خاطر دغه بوستان رڼوي

دماغ کتاب دې د رازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څۀ به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګے مې غواړی شمع روېه سوزېدل
راشه یو ځل

ارمان مې دا دے که پوره شی
د رنځ دارو مې د اشنا سره لیدل
راشه یو ځل

څو به شوګیر کړم راته وایه
واړه خوبونه راڅخه وتښتېدل
راشه یو ځل

که دیدن کړې تلوار راوکړه
همزولې راغلې خوروی مې تور وربل
راشه یو ځل

عاشقان ګوره حال یې څه شو
لکه پتنګ چې په لمبو وسوزېدل
راشه یو ځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه یو ځل



نن دې وربل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

د ژوند کاروان مې دے دغم څپو ګډوډ کړې
واوره فریاد مې د جرس په اوازونو کښې
تلے دې چل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تیارې به وینم
سبا د وصل به وی لرې که نږدې به وینم
دستا منزل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

خاطره نن دې که لږ سم راته کتلی وے
واړه بنایسته به دې له نږه څنې وتلی وے
د کتو چل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه اور راته بل دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستر‌ګې نیولې دي ماستا په رخسار کښې
او به او به شول توري مې په خمبار کښې
ما چې لیدلے، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت، وحشت راسره مل دے
اوس مشغولا کړم په دغه لار کښې
او به او به شول توري مې په خمبار کښې
نه در رسیږي نه در ته غږ شي
نه را نه خمب شي نه را نه نښ شي
دا څه ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توري، مې په خمبار کښې
یار یې له بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حیران دے
لکه سپوږمۍ دی، ستورو قطار کښې
او به او به شول توري مې په خمبار کښې



زما په طمع به کړې تېر هسې وختونه
زه دې یاره نه یم     دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم
ما ته را یاد نه دي څوک زه په ځوانۍ کښې یمه
په زړګي غم نه لرم په خوشحالۍ کښې یمه
زه لیونے یم چې کوم دومره فکرونه
زه دې یاره نه یم     دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم
لیونۍ نه یمه چې، دغه سودا کومه
په تا دې اوو بلیري زه څه پروا کومه [1]
چې بیا معشوقې را ته نه کا پېغورونه
زه دې یاره نه یم     دومره وزګاره نه یم
چې درته ګورم

---

[1] مترلینه او دیولا کښې دا مصرع داسې ده :
لیونۍ نه یم چې دا سودا کړم ـــ په تا دې اوو بلیري زه څه پروا کړم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نۀ یم چې خپل ځان وروینم
چې په ائین کښې ګورم آئین پرېشان ووینم
جانانه ډېر درپسې کړمه ارمانونه
زۀ دې یاره نۀ یم دومره وزګاره نۀ یم
چې درته ګورم

زۀ چې ګورم له ځمه مئین سوزېږی په ما
لکه د اور په شان سېځګار ځلېږی زما
خاطره مۀ راځه بلېږی سرۀ اوردونه
زۀ دې یاره نۀ یم دومره وزګاره نۀ یم
چې درته ګورم

توري سترګې دې اشارې کا
سرې شونډې لمبې کا
زړه کښې راته وایه
چې زۀ ګوم طرف ته لاړ شم

کله بانړۀ راته ارغی کا
پېنې دګلو انګی کا
چې مسکی شی بیا سترګې مړې کا
سرې شونډې لمبې کا
زړه کښې راته وایه
چې زۀ ګوم طرف ته لاړ شم

بیا چې ارمان د بېسرۀ وی
کړه چې څۀ دې نن پۀ زړۀ وی[1]
چې مې خلق ټول تماشې کا
سرې شونډې لمبې کا
زړه کښې راته وایه
چې زۀ ګوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په توره شپو کښې
دا دې خاطرې په تیارو کښې[2]
خپلې اوښکې دې ځان ته ډېرې کا
سرې شونډې لمبې کا
زړه کښې راته وایه
چې زۀ ګوم طرف ته لاړ شم

[1] مترلوته او دیوان کښې (ن) نشته
[2] مترلوته کښې دا بند نشته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې ته سبا به مې ټراپه تا پسې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

دلبره ښه راته معلوم یې
هسې خو نه چې ته ماشوم یې
کله نهیر په ما مظلوم یې
چې نه پوهیږې له هغو سره وعدې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې په غمونو کښې دې گیر کړم
اوس دې دلبره ځله هیر کړم
که دې یو ځل په دیدن سیر کړم



کنې له غمه به دې سر شم یا مړې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شي
بس اوس مې قتل ته تیار شي
اشنا زما څخې وېزار شي
پرما مې نشته خو په خپله مې ذبې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

څکه قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یادې دغه شپې کړه
زما ناترسه یاره

د ستا چې نه یمه د چا یم
راغلې دایم په خندا یم
مړ وند نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مړ وند شوم نو گیلې کړه
را یادې هغه شپې کړه زما ناترسه یاره

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

تېر به د ستا د حسن وار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

چې نه را درومې اشنا نو وعدې خدای کوې
هغه پرون دې څه وې ن چې بیا بیا کوې
زما یقین ستا په اقرار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

سترګې مې بې له تا نه د چا په لور نه ګوري
د ستا له مخه ځنې مخ نه نور نه ګوري
مړې به کله په دیدار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

زه د بل چا د مینې اشنا څه طمعه نه کړم
زه به له نوره سره ستا مینه سمه نه کړم
په ما خاطر دې که اعتبار شي یاره زما
اخر خزان به دې بهار شي یاره زما

له منزلونه او دیوانه کېږي (ي) دے

چې نه را درومې یاره ته، منع دې کړه یاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د یو ساعت مهمان د لې
واوره زما یو خو ګیلې
تېر به شي ستا شباب، سر دې نه کړو مراد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکاره کړم خپل ځیګر
نه کړې پروا پرې دلبر
نور دې دی څوک چې یې واوري دغه فریاد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

که بنه دې شي په سر زما
وی دې پیشکش دلبر زما
وائي خاطر شه نار له تا، نشته باقي جانېداد زما
نه شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نمر مخيه يارهٔ تا ووينم
ښکله دنيا ووينم ښکله دنيا ووينم

ستا د کاکل پهٔ تورو شپو پورې لاشپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څهٔ دی
دې تماشه مې د ژړا چې دې خندا ووينم
ښکله دنيا ووينم ښکله دنيا ووينم

دستا پهٔ مينه کښې د خلقو خندنے خوښ يم
خود خپل عقل ته ودګار شم ليونے خوښ يم
راسره غم د ليونو شي چې صحرا ووينم
ښکله دنيا ووينم ښکله دنيا ووينم

ګله چې ما خاطر ته ياد شې ټول جهان ګل شي
لهٔ ډېره هجره ضريو ګل ې د چشمان ګل شي
خدايې خبر بيا چې زهٔ به ستورے د سبا ووينم
ښکله دنيا ووينم ښکله دنيا ووينم



د قام ځلمو سترګې مو پوره ته کړې خپل ځان وګوره
چرته کښې ورسېدهٔ ، وګوره جهان وګوره

دقام ځلمو نموږ همه غه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنه کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نمر پهٔ شان پهٔ خپل طاقت پهٔ ټول جهان خور کړې
پهٔ خپل همت هر چرته نوم د پاکستان خور کړې

شاته نور مهٔ ګورې پهٔ وړاندې خپل قدم کېږدې
پهٔ وړانو لارو باندې مهٔ ځې قدم سم کېږدې

لهٔ مخې لرې کړې ازغي ځان ته ګلونه کېږدې
شي چې اغيار در ته حيران هلته کښې پلونه کېږدې

موږ له چې مخې له راغلي وار خطا تللي دی
ځلمو نموږ ځنې ډېر ځلي پهٔ شا تللي دی

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تاسو هم واورئ چې پېغور ته نظر ټيټ نهٔ شي
د پاکستان خلقو مېدان کښې مو سر ټيټ نهٔ شي

د مشرانو تل خلقو نصيحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ په کښې
دا تنګي لنډې کړئ او اوري چې خوشحال شئ په کښې

چې نن يې ونهٔ کړئ خلقو بيا به يې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ په خپله يې وکړئ

يو بل ته مهٔ ګورئ، لهٔ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو کوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن په خوله تندر د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ په ډېرو وينو دا مکان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
دا دهوکې مهٔ کوه
هسې دپکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه دے هر يو مسلمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ يو ځوان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ودود کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلي په شان وو اول
حیران پرېشان وو اول
اول وو ښاغلی اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شان ته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شان د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

ستا د هلال ستوری مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستوری بنکاری نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستوری سر او بصر دے زمونږ

تل خلېږی په تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**